د پوهنې وزارت

مدني زده کړې

لسم ټولگی

مدني زده کړې لسم ټولگی

۱۳۹۸ هـ. ش.

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی يې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي — پاميريان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ايماق، هم پشه يان
دا هيواد به تل ځليږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سينه کې د آسيا به — لکه زړه وي جاويدان
نوم د حق مو دی رهبر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې وزارت

مدني زده کړې

لسم ټولگی

۱۳۹۸

هـ.ش

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: مدني زده کړې

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د مدني زده کړو د څانګې علمي او مسلکي غړي

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اډیټ د څانګې علمي او مسلکي غړي

ټولګی: لسم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه:

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلند کېږي.

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او بښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې: د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده‌کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپېڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام ا و د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي یې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

سرلیکونه

مدني زده کړې

فرهنگ ۱
د څپرکي موخې ۲
فرهنگ ۳
د فرهنگ ځانګړتیاوې(خصوصیات) ۹
فرهنگ او ټولنه ۱۳
کوچني فرهنگونه ۱۷
فرهنگي اړیکې ۲۱
دویم څپرکي:ټولنیزې ډلې ۲۷
د څپرکي موخې ۲۸
ډله(گروپ) ۲۹
د ډلو جوړښت(شکل) ۳۳
د ډلې مشرتوب(رهبري) ۳۷
دریم څپرکی: ټولنیز بنسټونه ۴۱
د څپرکي موخې ۴۲

ټولنيز بنسټ (١) ٤٣
ټولنيز بنسټ (٢) ٤٧
ټولنيز بنسټ(٣) ٥٣
د نهادونو متقابلې اړيکې ٥٧
څلورم څپرکی: پراختيا ٦١
د څپرکي موخې ٦٢
پراختيا څه ته وايي؟ ٦٣
فرهنګي پراختيا ٦٧
اجتماعي- سياسي پراختيا ٧١
اقتصادي پراختيا ٧٥
د پراختيا او وروسته پاتې والي عوامل ٧٩
پراختيا او د ژوند چاپېريال ٨٥
د څپرکي لنډيز ٩١

لومړی څپرکی

فرهنګ

په دې څپرکي کې به په لاندې لوستونو پوه شئ.

• فرهنګ څه شی دی؟

• د فرهنګ ځانګړتیاوې

• فرهنګ او ټولنه

• فرهنګي اړیکې

د څپرکي موخې

زده کوونکي په دې څپرکي په پای کې:

له فرهنگ،کوچني فرهنگ،دودونو، ارزښتونو او ټولنې سره بلدتیا پیدا کړي.

- د فرهنگ غوره او عمده عناصر به توضیح کړای شي.
- فرهنگي ځانگړنې (خصوصیات) به توضیح کړای شي.
- کو چنی فرهنگ، فرهنگي تضادونه او فرهنگي یرغل به توضیح کړای شي.
- د ملي فرهنگ د ساتنې او د ټولنیزو قوانینو، قواعدو او ارزښتونو له منلو سره به لېوال شي.

فرهنګ

خبرې پرې وکړئ

ځرنګه چې په ټولنیز ژوند کې لیدل کېږي:

- خلک خپل زامن د ښوونځي له تګ څخه د مخه جومات ته استوي چې دیني زده کړې، اسلامي اساسات زده کړي او په شپږ یا اوه کلنۍ کې یې په ښوونځي کې شاملوي.

- کله چې دوه ملګري سره مخامخ شي یو بل ته سلام اچوي، یو بل ته لاس ورکوي او د بېلېدو په وخت کې خدای په اماني کوي.

-کله چې ترافیکي اشاره سره شي، موټروان خپل موټر د پلیو د تېرېدو لپاره دروي.

-کله چې د یوې کورنۍ کوم غړی مړشي، د هغه خپل خپلوان ګاونډیان کلیوال او د محلې خلک د هغه په جنازه کې شریکېږي، بیا یې خاورو ته سپاري او بیا د هغه لپاره د دعا کولو مجلس جوړېږي. خپلوان ملګري آشنایان د مړي کورنۍ ته ډاډیینه ورکوي.

- کله چې د ډوډۍ خوراک پای ته ورسیږي، تر دسترخوان چاپېر خلک د دعا لاسونه پورته کوي او د خدای (جَلَّ جَلالُه) شکر پر ځای کوي.

دا یوازې د هغو کړو او رواجونو ځو بېلګې دي چې په مجموع کې یو فرهنګ جوړوي.

ستاسې په آند!

۱- خلک ولې پورتني کارونه سرته رسوي؟

۲- که چیرې دغه یاد شوي کارونه ونه کړي، نو له کومو ستونزو سره به مخامخ شي؟

انسان د پیدایښت له اولې ورځې څخه په زده کړه پیل کوي. کرار کرار د کورنۍ غړي پېژني، له ټولنیزو ورتیاوو، پوهې او قواعدو سره اشنایي پیدا کوي او کله يې چې عمر زیاتېږي له هغو سره لازیات اشنا کېږي او په مختلفو ځایونو او بېلابېلو شرایطو کې داسې کړه کوي چې د ټولنې غوښتنه ده او بالاخره د خپلې ټولنې دود، دستور، کړه وړه او کلتور زده کوي.

انسان کله چې په ټولنه کې قدم کېږدي د یوې ژبې په زده کولو او د ټولنې له قواعدو او دودونو سره د بلدتیا په پایله کې کولای شي له انسانانو سره اړیکې وساتي. زده کړه وکړي، هغه نوروته ولېږدوي او خپلې کړنې همغږې کړي.

خلك د فرهنگ له لارې کولی شي هغه ورتیاوې ترلاسه کړي چې د ژوندي پاتې کېدو او پایښت لپاره په مختلفو طبیعي چاپېریالونو کې لازمي دي، د بیلگې په توگه: څرنگه خوراکي توکي را ټول او پاخه کړي، څرنگه کالي واغوندي او د ځان لپاره کور جوړ کړي.

د فرهنگ تعریف

په ژبنیو فرهنگونو کې د فرهنگ اصطلاح د دود، دستور، نظریاتو، هنر او د ژوند کولو د طریقې یوه پیچلې پدیده ده چې د قومونو د تاریخي تجربو په لړکې يې تشکل موندلی دی.

له دې کبله د ټولنې ټولو مادي او معنوي لاسته راوړنو او شتمنیو ته فرهنگ ویل کېږي.

د فرهنگ د مفهوم د تحلیل او تجزیې په پایله کې کولای شو څو ډوله عناصر تشخیص کړو چې هر یو يې د فرهنگ په جوړښت او تشکل کې رول او اغېز لري.

د فرهنگ غوره عناصر عبارت دي له: عقایدو (باورونو)، ارزښتونو، قواعدو، سمبولونو (نښو) او مادي او معنوي میراثونو څخه.

۱ - ارزښتونه

د لاندینیو مطالبو په اړه بحث او خبرې وکړئ:

۱- ښوونکي، مور او پلارته درناوی کول،

۲- له کوچنیانو سره مرسته او پر هغو شفقت کول.

۳- ملگرو ته دروغ ویل او سپکاوی کول.

د دې کړنو د سرته رسولو او يا سرته نه رسولو په پايله کې تاسو ته څه احساس پيدا کېږي؟
ښوونکي، مور او پلار ته درناوی کول يو مثبت ارزښت دی. مور او پلار تاسو ته د ژوند ټولې آسانتياوې برابروي. يعنې خواړه، کالي د استوګنې ځای، د ښوونې او روزنې اسانتياوې او داسې نورې اړتياوې را پوره کوي، له دې کبله ضروري ده چې د هغوی درناوی وکړئ. ښوونکی موږ ته علم او د ژوند کولو ورتياوې را زده کوي. ښوونکی د زده کوونکو معنوي پلار دی.
د اسلام په مقدس دين کې دروغ ويل او خپل ملګري يا دوست ته سپکاوی کول لويه ګناه او بې ارزښته عمل دی چې انسان بايد له هغه څخه ډډه وکړي. ارزښت کېدای شي ډول ډول ريښې ولري. څرنګه چې د انسانانو ارزښتونه په لومړۍ درجه کې د هغوی له بيالوژيکي اړتياوو څخه سرچينه اخلي، نو انسان هغو پديدو ته امتياز او ارزښت ورکوي چې په ښه ډول او زياته پيمانه وکولای شي د هغه اړتياوې پوره کړي. د مثال په توګه: کله چې انسان وږي وي هغه ته خواړه ارزښت لري او کله چې تږی وي هغه ته اوبه ارزښت لري. اسلام چې کومو کارونو ته انسانان هڅوي او يا د هغو کارونو دستور ورکوي، هغه کار ارزښت بلل کېږي او له هغو کارونو نه يې چې منع کوي هغه ته بې ارزښته کار ويل کېږي.
د ژوند په اوږدو کې وار په وار ځينې خاصې چارې د ټولنې ټولو او يا ډېرو غړوته مهمې ګڼل کېږي. د بيلګې په توګه:

- د يوه هېواد لپاره عزت او خپلواکي،
- د ملګرو او دوستانو تر منځ صداقت، صميميت اوربښتينولي،
- د مسلمانانو لپاره د خدای (جَلَّ جَلالُه)،عبادت او بنده ګي يو غوره ارزښت دی.

دوی د دې چارو په عملي کېدو سره خوښي څرګندوي. که چېرې څوک دې چارو ته سپکاوی وکړي اويا د هغو د عملي کېدو مخه ونيسي، د ټولنې د وګړو له سخت غبرګون سره مخامخ کېږي. دې چارو ته چې د ټولنې لپاره اهميت لري ارزښت ويل کېږي. نو له دې امله فرهنګي

ارزښت داسې معیار او اندازه ده چې خلک د هغه په واسطه د یو شي یا یو شخص مطلوبیت، ښیګڼه او ښایست ارزوي او هغه د خپل ټولنیز ژوندانه لارښود ګڼي.

۲- قواعد

قواعد د ټولنپوهنې د علم له نظره هغه مقررات او طرزالعملونه دي چې ټولنه د هغو له لارې د خپلو غړو کړنو او چلندونو ته سمون ورکوي. یو وګړی په ټولنیز ژوند کې سره له دې چې له آزادیو او حقونو څخه برخمن دی، خود دې په څنګ کې له ځینو محدودیتونو سره هم مخامخ کېږي. څوک چې په ټولنه کې ژوند کوي نشي کولی په آزاده توګه او هر ډول یې چې خوښه وي عمل وکړي. هغه باید د ټولنې د پاینښت لپاره په ځانګړو چارو لاس پورې کړي. که تاسې د فوټبال د ټیم لوبغاړي یاستئ، باید د فوټبال د لوبې قواعد مراعات کړئ. تاسې دا آزادي نه لرئ چې له توپ څخه په هر ډول چې زړه مو غواړي کار واخلئ. له دې کبله هغه چارې چې یو وګړی یې د ټولنې دیو غړي په توګه سرته رسوي، قواعد ګڼل کېږي او که چېرته له هغو څخه سر غړونه وکړي سزاورکول کېږي.

قواعد هغه مقررات دي چې خلکو ته ورښیي په ځانګړو حالاتو کې څرنګه عمل وکړي، څه ووایي او څرنګه فکر وکړي، قواعد زموږ د ټولو اعمالو لارښود دي.

ځینې قواعد د خلکو لپاره ډېر سپېڅلي دي او له هغو څخه سر غړونه د زغم وړ نه وي. ځینې قواعد تقریباً اختیاري دي او د سر غړونې په صورت کې چا ته سزا نه ورکول کېږي. دا ډول قواعدو ته قومي طریقې یا عامه عرف ویل کېږي، هغه فرهنګي قواعد چې رسمي بڼه لري او له هغو څخه د سرغړونې په صورت کې د سزا وړاندیز شوی دی قانون نومیږي.

د بیلګې په توګه: د مخدره توکو کرل، په ناجایزه توګه کارول او لیږدول رسمي سزا لري.

۳- **عقاید**: دیني عقیدې هم د ټولنیزو عقیدو یوه برخه بلل کېږي. زموږ خلک له اسلامي

عقایدو څخه پیروي کوي. اسلام داسې دین دی چې د انساني ژوندانه ټولې اړونده برخې رانیسي. دا دین خورا غني او شتمن فرهنګ لري. دا فرهنګ د (وحې) پر بنسټ او له اسلامي تعلیماتو څخه سرچینه اخلي. په لنډه توګه عقیده او باور د ټولنې اعتقادي او عام اصول دي چې د اجرا له ذمه وارۍ سره تړاو لري او د ټولنې لوړ ارزښتونه منعکسوي، لکه: د دیني اعتقاداتو اصول، د خدای جل جلاله عبادت کول، د لمانځه ادا کول، روژه نیول او زکات ورکول.

٤- سمبولونه (**نښې**): سمبولونه یا نښې د هغو حالاتو ښکارندوې دي چې انسان په ورځنی ژوند کې ورسره مخامخ کېږي. همدارنګه سمبولونه هر ډول فزیکي پدیدې (کلمه، شیز، غږ، احساس، بوي، حرکت، مزه) او داسې نوروته هم ویل کېږي چې خلك هغو ته ارزښت او معنا ورکوي. سمبول داسې شیز دی چې معنا څرګندوي، لکه: ملي بیرغ، ملي سرود، مجسمه او داسې نور. همدارنګه سمبول په یوه ټولنه کې د یو بنسټ شتون راښیي، د بېلګې په توګه: ملي بیرغ موږ ته خپل دولت را په یادوي، ملي سرود د ټولو قومونو او د هېواد د ټولو اوسېدونکو د وحدت نښه او سمبول دی. د ښوونځي جامي (یونیفورم) موږ ته دا راښیي چې د ښوونځي زده کوونکي یو. په ټولنه کې د سمبول او نښې اساسي نظام ژبه ده، ژبه په ټولنیز ژوندانه کې لوی ضرورت ګڼل کېږي او له هغې نه کار اخیستل د ټولنیز انسان له ځانګړنو څخه شمېرل کېږي.

همدارنګه ژبه د فرهنګ د عناصرو له ډلې څخه یو عنصر دی چې د فرهنګ د دوام او لېږد سبب کېږي، ژبه نه یوازې دا چې په خلکو کې د فرهنګ د متقابل غبرګون او د فرهنګ د دوام سبب کېږي، بلکې: د ټولنې د غړو د نظریا تو او فکرونو د رغونې سبب هم ګرځي.

فکر د ژبې له لارې په ژوند کې ښکاره او عملي کېږي. جوته ده چې د تمدن او شتمن فرهنګ پرمختګ، د یو قوم د افکارو او نظر یاتو په رغونې پورې اړه لري چې د ژبې له لارې ژوند ته لاره پیدا کوي. له ژبې پرته انسان نشي کولی کوم ډول چې اوس دی داسې واوسي.

د لوست تکرار

۱- د فرهنګ اصطلاح د ژوند داسې طریقې ته ویل کېږي چې د یوې ټولنې غړي یې زده کوي، عملي کوي یې او له یوه نسل څخه یې بل نسل ته لېږدوي.

۲- ارزښت په ټولنه کې هغه دودیزې او رواج شوې مفکورې دي چې موږ ته راښیي چې کوم شي سم دی او کوم شی ناسم دی.

۳- قواعد هغه مقررات او هیلې دي چې د هغو په واسطه ټولنه د خپلو غړو کړنې او کړه وړه تنظیموي.

٤- عقیدې، هغه اعتقادي او هر اړخیز اصول دي چې د اجرا کیدو له ذمه واریٔ سره په ځنګ کې د ټولنې اوچت ارزښتونه منعکسوي.

٥ - سمبول هغه نښه ده چې معنا څرګنده او روښانه کوي. لکه: ملي بیرغ، د سرې میاشتې نښان او داسې نور.

٦- ژبه د وینا او لیکنې د سمبولونو او نښو مجموعه ده چې د هغو یو ځای کیدل (ترکیب) معناوې تولیدوي او د وګړو اړیکې سره ټینګوي.

پوښتنې

۱- فرهنګ څه ته وایې؟

۲- ارزښت تعریف کړئ.

۳- د قواعدو نه مراعاتول د ټولنې د یوه غړي لپاره څه پایلې لرلی شي؟

٤- ستاسو په اند، انسان ژبه څرنګه، چیرته او څه ډول زده کوي؟

٥- دغو شیانو لکه: بیرغ، د ښـوونځي یونیفورم، ملي سرود ته ولې سمبول ویلای شو؟

کورنۍ دنده

د قواعدو، ارزښتونو او سمبول په اړه یو یو مثال ولیکئ او بیا یې په ټولګي کې ولولئ.

د فرهنګ ځانګړتیاوې

خبرې پرې وکړئ!

که مو پام کړی وي په کومه سیمه یا ښار کې چې تاسې ژوند کوئ، دود او دستور يې د بل ښار او یا هېواد سره تو پیر لري ستاسې په اند:

- په دود او دستور کې د دې توپیرونو علت څه شی دی؟
- آیا کولی شو یو فرهنګ له بل فرهنګ نه غوره وبولو؟
- ولې د فرهنګونو تر منځ د ښه والي او بدوالي معيار نشته؟

د پورتنيو پوښتنو ځوابونه به په دې لوست کې ومومئ.

۱- فرهنګ یوازې د انسان ځانګړنه ده: خدای جل جلاله انسان ته عقل او شعور ورکړی دی او په زیاته کچه په هغې پوهې چې په ټولنيز ژوند کې يې زده کوي عمل کوي. په داسې حال کې چې حیوانات په ارثي توګه عمل کوي او د هغوی د زده کړې ځواک کم دی.

د انسانانو د ژوندانه په اوږدوکې داسې عادي او ساده خيزونه چې نور ژوندي موجودات هم هغو ته اړ دي، د فرهنګ په چوکاټ کې داخليږي. د بيلګې په توګه: انسان د نورو موجوداتو په توپير که چېرته وږی هم وي بيا نو په خپل ټاکلي وخت خواړه خوري، خو داسې هم پېښيږي چې کله بيا وږی يا تږی هم نه وي، نو خوراک او ښناك کوي. وګړي وزرونه نه لري چې والوځي، خو هوايي جهاز جوړوي. ګړندی تللي نشي، خو موټر جوړوي. کولی شي درې وخته خواړه وخوري او يا په ځانګړو آدابو سره جومات ته ننوځي. پرنجيدل يو طبيعي عمل دی، خو له پرنجيدو وروسته انسانان مختلف غبرګونونه څرګندوي چې له بېلو بېلو فرهنګونو څخه استازيتوب کوي. يو وايي وبخښئ، بل وايي (الحمدالله) او په ځواب کې يَرْحَمُكَ الله وايي او يا هم دعا کوي.

۲- فرهنګ د زماني په اوږدو کې شتمن کېږي، لوړېږي او وده کوي

ځومره چې پر یو قوم ډېر وخت تیر شوی وي او ډېره موقع او فرصت یې لاس ته راوړی وي، نو کولای شي په زیاته پیمانه معنوي پانګه زیرمه کړي او ښه دودونه د بدو دودونو پرځای راولي. فرهنګي پانګه هغه مهال لاس ته راځي چې په یوه ټاکلي وخت کې هغه څه چې په فرهنګ کې اضافه کېږي له هغه څه نه زیات وي کوم چې له منځه ځي، نو له دې کبله فرهنګ ښه او غوره اخلاقي موازین او مذهبي عقیدې، دود او دستور اخلي او ځان ته پرې وده ورکوي. فرهنګ یوه ژوندۍ پدیده ده، له دې کبله باید متحرکه او خوځنده وي، د فرهنګ دریدل د هغه مرګ دی.

۳- فرهنګ یوه نسبي(نژادي) پدیده ده

هیڅ ګروپ او یا قوم دا نه مني چې د هغو فرهنګ ټیټ او بد دی. ټول فرهنګونه د کورني نظام د یوې ځانګړې ژبې او شکل درلودونکي دي. د انسان د کړنو سموالی او ناسموالی، ښه والی او بد والی په بشپړه توګه د همغې ټولنې د مروج فرهنګ، دود او دستور سره تړاو لري. په یوه ټولنه کې رواج شوی عرف او عادت کیدای شي بد د ښه په ښه وښیي او هغه څه چې یوه ورځ منلي شوي وو، کیدای شي یوه ورځ نه منونکي وبلل شي. همدارنګه هغه شی چې په ټولنه کې ښه عمل بریښي په بله ټولنه کې کېدای شي تېروتنه وبلل شي.

۴- هر فرهنګ د لېږد او زده کړې وړ دی

هره ټولنه یو فرهنګ لري او د یو فرهنګي میراث په توګه له یوه نسل نه بل نسل ته لېږدول کېږي او موږ ته دا رازده کوي چې څرنګه هغه مسایل چې موږ له هغو سره مخامخ کېږو، حل کړو، څرنګه خپلې اړتیاوې په ښه توګه پوره او په ښه ډول ژوند وکړو. دا یو فرهنګ دی چې موږ ته له تېرونسلونوڅخه راپاتې دی په دې فرهنګ کې دیني بنسټونه، ژبه، ارزښتونه، عقیدې، قوانین، رواجونه، علوم او صنایع شامل دي.

۵- فرهنګ عام خو ځانګړی هم دی

فرهنګ د انسان د مادي او معنوي لاس ته راوړنو په توګه، په انساني ټولنه کې عام دی. په ټولو انساني ټولنو کې (وړوکې او که لویه، ساده او که پیچلې وي) یو عمومي او ګډ فرهنګ لیدل کېږي. خو د فرهنګ له عامتوب سره سره هره ټولنیزه ډله د اقتصادي بنې، خپلوۍ، مقرراتو، دیني مناسکو، ژبې، ادبیاتو او هنر په برخه کې خپلې ځانګړې تګلارې لري او هېڅ داسې

فرهنګي پدیدې او شرایط نشته چې په دوو قومونو، دوو ټولنو او یا دوو ټولنیزو ډلوکې یو بل ته ورته والی ولري. په بل عبارت: د هرې ټولنې فرهنګ د همغې ټولنې پیداوار دی یعنې یوازې په همغې ټولنې پورې ځانګړی دی.

۶- فرهنګ ثابت خو بدلېدونکی هم دی

ټولې ټولنیزې او غیر ټولنیزې پدیدې اختراعات، تجربې، مهاجرتونه او داسې نور د وخت او ځای له غوښتنې سره سم بدلون او وده کوي. کله چې فرهنګ په یوه ټولنه کې زده کېږي او د منلو وړ کېږي، ثبات او دوام پیدا کوي. په حقیقت کې هغه عوامل چې فرهنګ ته بدلون ورکوي، که قوي او ځواکمن نه وي د ټولنې غړي د فرهنګ د بدلون پر وړاندې مخالفت او مقاومت کوي.

د بېلګې په توګه: په هر فرهنګ کې د جامو اغوستلو ځانګړې طریقه موجوده ده. یوازې هغه مهال دا طریقه او رواج بدلون مومي چې د نوي فرهنګ (فرهنګي نوښت) تر اغیز لاندې راشي او د ټولنې د اکثریت خلکو د منلو وړ وګرځي. خو دا بدلون په فرهنګي ساحو کې دومره کرار او ورو دی چې په ورځنیو لیدنو کتنو کې نه احساسېږي او نژدې ثابت معلومېږي.

۷- د فرهنګ منل اجباري، خو په عین حال کې اختیاري هم دی

انسان د ژوند له لومړۍ ورځې څخه خوړل، کښېناستل، خبرې کول، اغوستل او بالاخره د ارزښتونو پېژندنه که وغواړي که ونه غواړي زده کوي. د دې لپاره چې یو وګړی وکولی شي په ټولنه کې ژوند وکړي هغه اړ دی چې ژبه، دین، مذهب، د خوړلو طریقه، د جامو اغوستل، دود او دستور، رسم او رواج زده کړي. لنډه دا چې ټولې هغه کړنې او فکرونه زده کړي چې ټولنې، توکم، قشر، ټولنیزې ډلې او بالاخره ښار او سیمې ته چې په هغه کې ژوند او وده کوي، د منلو وړ وي. نو له همدې کبله وایو چې د فرهنګ زده کړه اجباري او له فشار سره یو ځای ده، خو انسان نظر په هغو جسماني فکري، رواني، علمي او ټولنیزو ځانګړتیاوو چې لري یې، د پوهې په هغه چوکاټ کې چې په ټولنه کې یې زده کوي نه پاتې کېږي او اختیار لري چې پر مخ لاړ شي اوخپل ځان د اختیار حریم ته ورسوي. فرد د (جبر) په وړاندې اختیار هم لري، که نه نو دا ټول اختراعات او کشفیات به نه کېدل او دا ټول پر مختګ به ناممکن و. دا ټول د دې ښکارندوی دي چې انسان د اختیارلرونکی دی او د انتخاب قدرت لري. کولای شي چې خپل ځان د اجبار له ولکې څخه وباسي.

د عام فرهنګ نور ډولونه هم د پوهانو له خوا تشخیص شوي دي چې له دې ډلې کولی شو له هنر، بدني سینګار، لوبو، تحفې ورکولو، ټوکو او روغتیایي قواعدو نومونه واخلو. فرهنګي ځانګړ تیاوې د یوې ټولنې د افرادو د کړو وړو په ځانګړتیاوو غوښ اغیز اچوي. د هرې ټولنې وګړي په فرهنګي چوکاټ کې د ټولنې له فرهنګي ځانګړتیاوو څخه سر غړونه نه کوي. زیات خلك د خپلې ټولنې له فرهنګ څخه پیروي کوي، ځکه په مستقیمه او غیرمستقیمه توګه یې د هغه زده کړه کړې ده. هغوی ممکن له دې لارې له یوازیتوب نه خلاصون پیدا کړي او له خپلې ډلې سره یو ځای شي، ځکه چې په ټولنیز ژوند کې نظم او سمون ګټور بولي.

د لوست تکرار

•فرهنګ یو ټولنیزه او په ټولنیزو اړیکو پورې تړلې پدیده ده. د ټولنپوهنې له نظره هر څوك فرهنګ لري او داسې انسان نشته چې فرهنګ ونه لري.

•...

•...

•...

•...

پوښتنې

۱- آیا داسې فرهنګونه شته چې نسبت بل فرهنګ ته ښه او اوچت وي؟

۲- د فرهنګ عامې ځانګړتیاوې کومې دي؟له بیلګې سره یې وواياست.

۳- ولې وایو چې فرهنګ یوازې د انسان ځانګړنه ده؟

٤- آیا داسې انسان پیژنئ چې فرهنګ ونه لري؟

۵- لاندې مطالب مطا لعه کړئ، سمې جملې په(√) علامې سره او غلطې جملې په (×)علامې سره په نښه کړئ.

الف- د انسان او ژویو ترمنځ اساسي او اصلي توپیر د انسان د فرهنګ لرل دي. (   )

ب- فرهنګ نسبي نه دی. (   )

ج- فرهنګ د زمانې په اوږدو کې غني کیږي، لوړیږي او وده کوي. (   )

کورنۍ دنده

زموږ د هېواد او بهرنیو هېوادونو فرهنګي ځانګړتیاوې سره پرتله او د څلورو مثالونو په ورکو لوسره یې د ټولګي پر وړاندې بیان کړئ.

فرهنگ او ټولنه

خبرې پرې وکړئ

ځرنګه چې په تېرو درسونو کې مو زده کړل چې انسان په ټولنه کې زیږي، په ټولنه کې وده کوي، زده کړه کوي او زده کړه ورکوي. د یو لړ قوانینو اومقرراتو په منلو سره خپل ژوند ته ادامه ورکوي چې د یو لړ فرهنګي عناصرو د پیدایښت لامل ګرځي. ستاسې په آند:

- فرهنګ د ټولنیز ژوند په کومو برخو پورې تړاو لري؟
- که چیرته ټولنه مو جوده نه وي، نو فرهنګي عناصر به ځنګه دوام پیدا کړي؟

د انسان، ټولنې او فرهنګ اصطلاحات، سره له دې چې د مفهوم له لحاظه سره بېلولای شو، خو په حقیقت کې د دوی تر منځه ډېرې نژدې او عیني اړیکې موجودې دي. هېڅ فرهنګ له ټولنې پرته نشته او هېڅ ټولنه نشته چې فرهنګ ونه لري. **ټولنه**، هغه منظمې او متقابلې اړیکې دي چې انسانان یې په خپلو کې سره لري. **فرهنګ** د انسانانو د ژوند لاروچارو، ارزښتونو، دود، دستور او د دوی له خوا د تولید شویو توکو په معنا دی. د دې لپاره چې فرهنګ ښه وپېژنو باید د فرهنګ مخکنیو او اوسنیو اړخونو ته پام وکړو.

- د فرهنګ مخکني اړخونه رسم او رواج، دودونه او سنتونه دي.
- د فرهنګ اوسني اړ خونه موږ ته نوی فرهنګ او د هغه ځانګړ تیاوې چې نن لیدل کېږي، راپیژني. خدای جل جلاله دا د خاورو نړۍ پیدا کړه او انسان چې په دې نړۍ کې ژوند کوي، د خدای جل جلاله په حکم یې له هېڅ نه هستۍ ته پل کیښود. او د ځمکې په سر له خپرېدو نه وروسته یې په ژوند کولو پیل وکړ. بیا دې ډلو په خپلو کې ځانګړي رواجونه او دودونه

وموندل. نن مهال د خلکو او هېوادونو د پراختيا له امله نوي رواجونه، دودونه او فرهنګونه ليدل کېږي.
د فرهنګ اصطلاح، په عامو خبرو اتروکې معمولاًکره او ظريفو هنري او ادبي سليقو ته اشاره ده، خو د ټولنپوهنې له نظره دا اصطلاح ډېره پراخه او په دې معنا ده چې هر څوک په ټولنه کې ژوند کوي، فرهنګ لري. ټول شيان او نعمتونه چې خدای جل جلاله د ځمکې پرمخ د خپلو بنده ګانو د ګټې اخيستو لپاره پيدا کړي دي، په فرهنګ کې ورګډ دي چې انسانان په هغه کې برخه لري. دا شيان په دوه ډوله دي: مادي شيان اومعنوي شيان چې فرهنګ هم پر همدې بنسټ په دوو برخو، مادي او معنوي فرهنګ وېشل کېږي:
- مادي فرهنګ هغه مادي شيان دي چې خدای جل جلاله پيدا کړي، انسانان ترې ګټه اخلي او له هغو څخه مصنوعات او د خپلو اړتياو د پوره کولو لپاره وسايل جوړوي. لکه: ماشينونه، جامې، مدرسې، کارخانې، ښارونه، کتابونه، فضايي بېړۍ، مجسمې او داسې نور.
- په معنوي فرهنګ کې ژبې، فکرونه، عقايد، قواعد، دود، رسم اورواج، کيسې، وړتياوې او سياسي نظامونه شامل دي.
ټولنه د خلکو هغې ډلې ته ويل کېږي چې يوه اوږده موده يې يوځای ژوند کړی وي، يوه ټاکلې سيمه يې په خپله ولکه کې راوستې وي او په پايله کې په دې توانېدلي وي چې له نورو ډلو څخه په توپير سره يې خپلو ځانونو ته د يو ټولنيز واحد په توګه سمون ورکړی وي.
که چيرې داسې وبولو چې ټولنه د نسبتاً تل پاتې ډلې چې له ښځو، نارينوو او کوچنيانو چې د خپلو اړتياو د لېرې کولو لپاره يو له بل سره مرسته کوي جوړه شوې وي، نو فرهنګ هماغه د ګډو ارزښتونو او وسايلو مجموعه ده چې د اړتياو د ليرې کولو لپاره جوړېږي او له يوه نسل نه بل نسل ته انتقالېږي. هېڅ ټولنه له خپل ځانګړي فرهنګ نه پرته شتون نه لري. ټولنه له هغو خلکو نه جوړه ده چې په يوه فرهنګ کې برخه ولري او دا روښانه ده چې له فرهنګ نه ګټې اخيستلو سره جوخت په هغه کې فعال رول هم لوبوي. فرهنګ د يوې ډلې د ژوند کولو طريقه ده او ټولنه د خلکو هغه منظمه ټولګه ده چې د ژوند کولو منظمه طريقه او شيوه لري. په ساده ژبه ويلای شو چې ټولنه يعنې خلك او فرهنګ يعنې د خلکو د کړو وړو طريقه او روش.
د دې ځانګړنو له څرګندونې نه دا پايله لاس ته راځي چې د ټولنې او فرهنګ بېلېدل ممکن نه دي. ځکه چې ټولنه به له فرهنګ پرته د بې هويته خلکو مجموعه وي. سمه ده چې ټولنه د فرهنګ د ودې زانګو ګڼل کېږي، خو د ګډ ژوندانه او ټولنيزو اړيکو مفهوم او معنا د فرهنګ په واسطه لاس ته راځي. دا کار لږ تر لږه په ذهني توګه د امکان وړ دی چې فرهنګ له ټولنې

نه جدا کړو، فرهنګ د ټولنې د ژوند له طریقې نه تشکیل شوی دی او ټولنه له هغو خلکو نه جوړه ده، چې له یو بل سره متقابل عمل لري چې په یوه فرهنګ کې سره شریک دي. خو دا دوه مفهومه ډېرې نږدې اړیکې لري. څرنګه چې یو فرهنګ له ټولنې پرته چې دا فرهنګ ساتي وجود نشي درلودی او له فرهنګ څخه پرته فرد او انساني ټولنه نه شي کولی ژوند ته دوام ورکړي.

خبرې پرې وکړئ

ستاسې په اند فرهنګ ته د نړۍ د وګړو د اړتیا علت څه دی؟

انسانان په دې دلیل فرهنګي نظامونه منځ ته راولي چې هغو ته اړتیا لري. نظامونه پراختیا مومي ترڅو متقابل عمل او سمون ورکول اسانه کړي. همدا اړتیا او د هغو بدلون یو فرهنګ، دود، ارزښت او رواجونه تشکیلوي چې په ټولنو کې د نظم او سمون سبب ګرځي، د هغو ټولګیو چې دا فرهنګ یې منلی دی د ودې، پیوستون او ټینګو اړیکو لامل ګرځي. هغه ټولنې چې په خپل حرکت او ودې کې په همدې فرهنګ او عقایدو ولاړې وي، د ټولو د منلو وړ دي د یو او بل ټولنیزو اړتیاو په پوره کولو لاس پورې کوي. پوه انسانان د خپلې ورتیا او پوهې له برکته په دې بریالي شول چې غرونه، درې، ځنګلونه، ساحلي او قطبي سیمې په خپله ولکه کې راولي، ځکه چې دوی تل په دې سیمه کې د ژوند لپاره د محیط د اماده کولو تخصصي وسایل جوړوي او اماده کوي.

ستاسې په آند کوم عوامل د بشر د بې سارو کامیابیو لامل ګرځېدلي دي؟

۱- د انسانانو فکر او نوښت،

۲- د انسان مادي او معنوي اړتیاوې،

۳ - فرهنګ

ځواب په یوه کلمه کې، فرهنګ دی. زموږ ګډ فرهنګ هماغه دی چې ټولنیز ژوند مو جوړوي. که چېرته فرهنګ له یوه نسل نه بل نسل ته نه انتقالېدلای نو هر نوی نسل به مجبور و چې د ژوند د ډېرو ساده مسألو حل له سره پیل کړي. همدارنګه اړ به و چې د کورنۍ نظام له سره جوړ کړي، ژبه رامنځته کړي اور کشف کړي، ماشینونه جوړ کړي او داسې نور. زموږ ټولنه هم لکه نورې ټولنې داسې فرهنګ لري چې له یوه نسل نه بل نسل ته لیږدول شوی دی. د فرهنګ، تکنالوژي، مذهبي بنسټونه، ژبه، ارزښتونه، عقاید او زموږ دودونه او سنتونه دي چې د رسمي او غیر رسمي ټولنو له لارې انتقالیږي. ټولنه د پر مختګ په جریان کې نوې اړتیاوې پیدا کوي.

ټولنه د دې اړتیاوو د پوره کولو لپاره نوي وسایل جوړوي چې د نویو وسایلو او عناصرو د پیدا کېدو او د پخوانیو عناصرو د دوام په پایله کې په دوامداره توګه اضافي عناصر د ټولنې په فرهنګ ور زیاتیږي او ستره فرهنګي پانګه جوړوي. تا ریخ راښیي چې ټولنه د اقتصادي ودې په هره مرحله کې یوه ساه(روح) لري چې هغه فرهنګ دی . که چیرته ټولنه یو جسم وبولو فرهنګ د هغه ساه ګڼل کېږي. څرنګه چې زموږ ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده او د یوې ټولنې فرهنګ هغه وخت د یوې ټولنې د ساه مقام ته رسیدای شي چې په هغې ټولنې حاکمه فضا یوه اسلامي فضا وي، خلک له اسلامي اخلاقو سره عادت شوې وي، له دیني قواعدو او مقرراتو سره آشنا او په اسلامي آدابو مؤدب شوي وي. په دې معنا چې په ټولنه کې اسلامي فرهنګ پلی شوی وي.

د لوست تکرار

• هیڅ ټولنه د هغه له ځانګړي فرهنګ پرته شتون نه لري.(۱)

• ....

• ....

• ....

• ....

پوښتنې

۱- ټولنه تعریف کړئ.

۲- څه فکر کوئ، داسې ټولنه شته چې فرهنګ ونه لري؟

۳- څرنګه چې فرهنګ له یو نسل نه بل نسل ته لیږدي معنا یې څه ده؟ یو مثال راوړئ.

٤- د فرهنګ پخوانی او اوسنی برخې څه توپیر لري؟

٥- د مادي فرهنګ څو بیلګې ولیکئ.

٦- د معنوي فرهنګ څو بیلګې ولیکئ.

کورنۍ دنده

د ټولنې او فرهنګ تر منځ اړیکې په لاندیني جدول کې په لنډه توګه ولیکئ.

فرهنګ	ټولنه

(۱)-ګران زده کوونکي دې د دې لوست وروسته د ښاغلي ښوونکي په مرسته د لوست لنډیز پخپله ولیکي.

کوچني فرهنگونه

په تېر لوست کې مو ولوستل چې کله انسانانو د ځمکې په مختلفو برخو کې ژوند پیل کړ، دې ډلو ځانګړي دودونه او رواجونه منځ ته راوړل چې یو تر بله یې په دودونو او رواجونو کې توپیر درلود. دا توپیر په نورو ټولنو او همدارنګه په خپله ټو لنه کې هم لیدل کېده. څرنګه چې نن ورځ لیدل کېږي، د خلکو او هېوادونو له زیاتوالي سره جوخت، نوي دودونه، رواجونه او آداب را څرګند شول. د کوچنیو فرهنګونو په لوست کې به دا موضوع تاسې ته روښانه شي.

پر تله یې کړئ

د کور غړي او یا مو ټولګیوال په نظر کې ونیسئ،

د هغوی څو ګډې ځانګړتیاوې او توپیرونه وشمېرئ،

اوس د لویو ډلو په باره کې فکر وکړئ. د یوه ستر هېواد، لکه: افغانستان د مختلفو سیمو خلک په نظر کې ونیسئ، د هغوی د څو ګډو ځانګړتیاوو نمونې او همدارنګه د هغوی د توپیرونو نمونې څرګندې کړئ.

کوچنی فرهنګ، په لوی ګروپ کې د کوچني ګروپ د ژوند طریقې ته وایي. د کوچنی ډلې د ژوند طریقه له یوه اړخه له اړوندې ډلې یا ګروپ سره یو ډول ده او له بلې خوا ورسره توپیر لري.کوچنی فرهنګ د لوی فرهنګ زیاتره طریقې مني. خو په هغو برخو کې چې په قواعدو، مادي چارو او د کار کولو په طریقې پورې اړه ولري، دا ډله د هغو په هکله مختلف نظرونه لري.له دې جملې نه کولای شو د سیمه ییز، مذهبي، سنتي، قومي، کاري، توکمي، قبیلوي، محلي اوسیمه ییزو ګروپونو، حرفوي ډلو، د خپلوی، مذهبي لړکیو او بالاخره د ټولنې مختلف قشرونه هر یو یې کوچنی اوځانګړی فرهنګ لري چې د همغې ځانګړې ټولنیزې ډلې پورې تړاو لري. په عامه توګه، په هر ګروپ کې د فرهنګ ځانګړی شکل اوهویت موجود دی چې

کوچنی فرهنګ نو میږي. په دې توګه، کوچنی فرهنګ د یوې ډلې هغو عقایدو، قواعدو، آدابو او دودونو ته ویل کېږي چې د ټولې ټولنې له عقایدو، قواعدو او دودونو سره توپیر لري. په بل عبارت، د کوچني فرهنګ مفهوم هغو فرهنګي نمونو ته ویل کېږي چې له ټولې جامعې نه یوه برخه جلا کوي.

کوچنی فرهنګ د یو هېواد د یوې ښاري اویا د کلیوالي ټولنې په ټولنیزو طبقاتو او قشرونو کې هم لیدل کېږي، د بېلګې په توګه: که ژبه په نظر کې ونیسو، دا سمه ده چې هره ټولنه یوه معینه ژبه لري چې د نورو ټولنو له ژبې سره توپیر لري، خو په آسانۍ سره پو هیدای شو چې کو چنیان، تنکي ځوانان، سپین ږیري، د دولت کار کوونکي، کارګران، شتمن، د ښار د سویلي سیمې اوسېدونکي، د ښار د شمالي سیمې اوسېدونکي... هر یو یې د خپلو ځانګړو کلمو، اشارو، متلونو، ویناوو او بالاخره د مخصوصو ادبیاتو او ژبو لرونکي دي.

انسانان ځي او راځي، خو ټولنه پخپل ځای ولاړه ده. انسان په هره ټولنه کې د رواج شوي او منل شوي فرهنګ له لارې له نورو سره د نژدیوالي او پیوستون احساس کوي او له نورو ټولنو څخه ځان جدا او متفاوت بولي.

په یوه ټولنه کې د کوچنیو فرهنګونو تر منځ او یا د مختلفو ټولنو ترمنځ فرهنګي تضادونه چې د ژوند کولو په طریقې کې او د ټولنې د وګړو د کړنو د لارو چارو له توپیرونو نه منځ ته راځي، یو طبیعي کار دی.

په ځینو چارو کې کوچني فرهنګونه یوازې له اصلي فرهنګ نه توپیر نه لري، بلکې د ټولنیزو ارزښتونو او دودونو پر خلاف هم عمل کوي. ټولنپوهان دا ډول کوچني فرهنګونه د فرهنګ ضد بولي.

خو باید په نظر کې ولرو چې د کوچنیو فرهنګونو د خلکو په باره کې قضاوت یوه ستونزمنه، پیچلې او د څیړنې وړ موضوع ده. موږ نشو کولای چې خلکو ته یوازې د یوې ګډې ځانګړتیا له امله په یوه فرهنګي مقوله کې ځای ورکړو.

د بیلګې په توګه: که چېرته د قومیت مسئله د یو کوچنې فرهنګ د هویت معیار وټاکو، دا به سمه نه وي. نن ورځ په نړۍ کې میلیونونه خلک د نژاد او فرهنګ له نظره سره ګډ شوي دي او نشو کولای په آساني سره هغوی د سپین، تور، افریقایي او مکزیکي په مقوله کې راولو.

د اهمیت وړ ټکی دا دی چې یو ځانګړی خصوصیت نه شي کولای د خلکو د کوچني فرهنګ ټاکونکی وګرځي. ټولنپوهانو چې کوم ګروپونه د کوچني فرهنګ جوړوونکي بللي دي، لاندینی ځانګړتیاوې یې په ګوته کړې دي:

۱- ژبه، ارزښتونه، دودونه او ګډ قلمرو(سرحد) لري.
۲- د دې ډلې د غړو متقابل عمل د نورو ګروپونو په پرتله د خپل ګروپ سره ډېر نژدې دی.
۳- د ټولو کوچنیو فرهنګونو ګډې ځانګړتیاوې دا دي چې د هغوی غړي په خپله خوښه یا د ځینو عواملو له کبله ځان د ټولنې له نورو غړو نه ګوښې او جلا بولي. د دې جلاوالي دلیل هر څه چې وي (په ځینو برخو کې) د ټولنې د اصلي فرهنګ له لارې څخه جلا حرکت کوي.
په ځینو ټولنو، په ځانګړې توګه په کلیو کې چې هغوی د خپلوۍ او توکم په ډلو کې او یا له یو بل نه ګوښې ژوند کوي، دا توپیر او تنوع ځینې وختونه د دې ډلو تر منځ د تاوتریخوالي، د اړیکو خرابوالي او کله هم د جګړې او اخ وډب لامل ګرځي.
فعالیت: د لاندینیو پوښتنو په اړه بحث وکړئ:
۱- ستاسو په اند د یو فرهنګ نه منل او د هغه د لاسته راوړنو څخه سترګې پټول په ټولنه کې څه پایلې لري؟
۲- ښوونه او روزنه او په ځانګړې توګه د ښوونځي چاپیریال د مختلفو فرهنګونو د سمې پیژندنې د ایجادولو او رواجولو په برخه کې څه رول لوبوي؟
له یوه فرهنګ نه انکار کول او د هغه په لاسته راوړنو سترګې پټول په هغه فرهنګ پورې د تړلو وګړو د شخصیت د یوې برخې نه منل دي. هر فرهنګ د خپلو غړو شخصیت څرګندوي. کله چې د یوې ډلې په فرهنګ سترګې پټې شي. په حقیقت کې د هغه فرهنګ د غړو ځاني شتون او یووالی له ګواښ سره مخامخ کېږي. چې په پایله کې د دې ډلو تر منځ د یو بل په باره کې غلط او نا سم نظریات او عقیدې راپیدا کوي.
ښوونه او روزنه داسې نظام دی چې په هغه کې د فرهنګونو ژوند چې په حقیقت کې د ټولنو ستر او با ارزښته میراث دی ساتل شوی او نورهم شتمن کېږي. د ښوونځي ماحول کېدای شي د مختلفو فرهنګونو د سمې پیژندنې د ایجادولو او رواجولو په برخه کې خورا ښه رول ولوبوي. کله چې ټول وګړي د مختلفو فرهنګونو په درلودلو سره د ښوونې او روزنې داسې یو واحد نظام مني چې دوی په ټولنه کې د ژوند کولو لپاره چمتو کوي. نو دا وګړي په داسې نظام کې روزنه ویني چې د ارواحي امنیت نه برخمن وي، داسې امنیت درلودل د وګړو پر رغونه اغیز کوي.
د داسې ټولنې وګړي چې په هغې کې هر څوک د ارزښت احساس وکړي او د هویت لرونکي وي، نه یوازې له خپلې ډلې سره، بلکې د نورو فرهنګونو سره هم د نژدیوالي او پیوستون احساس کوي.

انحرافي کوچني فرهنگونه

دا مفهوم د هغو ډلو لپاره کاريږي چې غړي يې له هغو دودونو او ارزښتونو څخه پيروي کوي چې د ټولنې عام قوانين تر پښو لاندې کوي. دا ډول ډلې او ګروپونه تقريباً په ټولو ټولنو کې ليدل کيږي، د بيلګې په توګه: د مخدره توکو د قاچاق باندونه، د غلو او لارې شوکوونکو باندونه او داسې نور.

د لوست تکرار

• ....
• ....
• ....
• ....
• ....
• ....

پوښتنې

۱- کوچنی فرهنګ څه شی دی؟

۲- د فرهنګي تضاد سرچينه او منشا څه شی ده؟

۳- په ټولنه کې د يوه فرهنګ نه منل او د هغه د لاسته راوړنو څخه سترګې پټول څه پايلې لري؟

۳- د مختلفو قومونو دګډ فرهنګ په باره کې خپل نظر وليکئ.

کورنی دنده

په کومه سيمه کې چې ژوند کوئ، د کوچني فرهنګ څو نمونې وليکئ او په ټولګي کې يې ولولئ.

فرهنګي اړیکي

خبرې پرې وکړئ

څرنګه چې په تېرو لوستونو کې وولوستل، انسان یو ټولنیز موجود دی، انسان د دې لپاره چې په ټولنه کې ژوند وکولای شي، اړدی چې د ټولنې فرهنګ زده کړي. له دې کبله له نورو سره اړیکې د ده لپاره ضروري دي. دې مطلب ته په پام سره د لاندینیو پوښتنو په باره کې خبرې سره وکړئ.

۱-فرهنګي اړیکي څه ته وایي؟

۲- د ټولنې د وګړو تر منځه د اړیکو نه درلودل به څه پایلې ولري؟

۳- اړیکې او تماسونه په ټولنیز ژوند کې څه رول او اهمیت لري؟

اړیکې هغه جریان دی چې یو شخص بل شخص یا ډله د یوې موضوع په هکله له خپلو احساساتو څخه خبروي. اړیکې له بېلابېلو لارو تر سره کیږي (د انځورونو، د ریاضي نښو او شمېرو، د لاسونو د حرکت، د ځیرې په حرکتونو او حتی د بدني حرکتونو له لارې) خو په ټولنه کې د اړیکو ډېر رواج شوی نظام د ویناا(خبرو) او لیکلو نمونې دي چې موږ هغې ته ژبه وایو. ټولنه د وګړو مجموعه ده چې په ګډ چاپیریال کې ژوند کوي او ګډ بنسټونه، فعالیتونه او ګډې ګټې لري. خو که هغوی په یو ډول یو له بل سره اړیکې ونه لري. حتی نشي کولی له خپلو ګډو ګټو نه خبر شي او یا ګډ هدف ته ورسیږي. نو پایله یې روښانه ده. د اړیکو نه شتون یعني د ټولنې نه شتون. څرنګه چې په تېرو درسونو کې مو ولوستل فرهنګ د یو نښلوونکي او پیوند ورکوونکي ځواک په توګه عمل کوي او د هغو ځانګړتیاوو له امله چې لري یې خلک د نظریاتو، عقایدو، ګډو دودونو، رواجونو له نظره او د فرهنګ د لیږد، ذخیرې، رواج او خپریدو له لارو سره نښلوي. که چېرته یو فرهنګ له نورو فرهنګونو سره اړیکه ولري د فرهنګي استقراض یا رواج کېدو له امله په دې فرهنګ کې بدلون راځي.

اشاعه: د پوهې خپرېدل له یوه فرهنګ نه بل فرهنګ ته اویا د یو فرهنګ په منځ کې د

مختلفو ډلو تر منځه د پوهې خپرېدلوته اشاعه وايي: اشاعه هغه وخت پېښېږي چې يو گروپ يا ډله د بلې ډلې ارزښتونه، دودونه، افکار، رسمونه، رواجونه او مادي شيان اقتباس کړي او گټه ترې واخلي.

فرهنگ داسې ځانگړی علم نه دی چې په يوې مخصوصې طبقې پورې اړه ولري. دا داسې يوه قاعده او لاره ده چې ټولنه د فکرونو له ټولو ډولونو او ټولنيزو توپيرونو سره سره د هغه غوښتونکې ده، د فرهنگونو په وده کې اساسي عنصر د هغوی ترمنځ د اړيکو ډول دی. اوس مهال زياتره وخت اړيکې او تماسونه د ټولنيزو اړيکو د وسايلو په واسطه سرته رسيږي، رسنۍ يا د اړيکو وسايل په دوه ډوله دي: هغه رسنۍ چې پيغامونه يې مخامخ اود شخصي او مستقيم تماس په توگه د پيغام ورکوونکي او پيغام اخيستونکي ترمنځ تبادله او لېږدول کېږي. لکه: خصوصي خبرې اترې، خصوصي ليکونه او داسې نور. هغه ټولنيزې رسنۍ چې خپل پيغامونه ډېرو خلکو ته چې له هغو سره هيڅ ډول مستقيمه اړيکه نه لري رسوي. چې دا رسنۍ عبارت دي له: ټلويزيون، راډيو، ورځپاڼه، انټرنېټ، سينمايي فلمونه، مجلې او کتابونه.

د ډله ييزو اړيکو وسايل، د پروگرامونو په خپرولو سره نوي فرهنگونه رامنځ ته کوي. څرنگه چې اوس مهال ټکنالوژۍ ډېر پرمختگ کړی دی، دا روښانه ده چې د هغې اغيز د يو هېواد له ټولنيز وضعيت، تاريخي بنسټونو، فرهنگي او عقيدوي ځانگړتياوو سره تړاو لري.

له دې موخو پرته، تکنالوژي هرومرو ټولنې ته داخلېږي او کله چې داخله شوه په نظرياتو او کړنو باندې اغيزه کوي، څرنگه چې په آسانۍ سره نه شو کولای له هغه تېر شو خو کولای شو هغه د غيرمادي فرهنگ په خدمت کې وگمارو او د نه منلو او يا ردولو په ځای له هغې نه مطلوبه گټه واخلو. د نورو فرهنگونو گټور عنصرونه جذب او غير ضروري او نامناسب عنصرونه يې دفع کړو.

فرهنگي اړيکې يو دوه اړخيز او متقابل جريان دی. د اړيکو په جريان کې فرهنگ منونکي بايد دې ته ځيروي، د هغه فرهنگ هغه عناصر چې ضرور نه دي ردکړي او د دې عناصرو په انتخاب کې ځير او فعال واوسي. فرهنگي اړيکې هغه وخت گټورې او اغيزمنې تماميږي چې خپل شتمن، دوديز او توليدي فرهنگ ورغوو. د هغه ضعيف ټکي اصلاح او په خپلو نويو

تګلارو او طریقو د هغه نیمګړتیاوې لیرې او وده ورکړو. هغه کړنې او تګلارې چې د هېواد لپاره مو مناسبې دي، اختراع او کشف کړو. یو هېواد هغه وخت په ستونزو او مشکلاتو باندې برلاسی کېدای شي چې د ټولنې د لوړ فکر خاوندان، استادان، یعنې هغه کسان چې د تولیدي تفکر لوړو مدارجوته رسیدلي وي راغونډ کړي چې د هېواد د شرایطو په نظر کې نیولو سره د ستونزو د حل لارې پیدا او له هغوی نه د چارو او مسائلو د حل لارې وغواړو. د نورو هېوادونو د حل لارې د هغو هېوادو د خپلو مسایلو د حل لپاره مناسبې دي. موږ کولای شو له نورو هېوادونو دا زده کړو چې دوی په کومو طریقو د خپلو مسایلو حل ته رسیدلي دي، یعنې دا چې د تفکر او فکر کولو طریقه له هغوی نه زده کړو، نه داچې د حل لارې له هغونه کاپي کړو.

انټرنېټ څه شی دی؟

د انټرنېټ له نوم سره آشنا یاست، ممکن له هغه څخه مو ګټه هم اخیستې وي.

ستاسو په اند! څنګه کولای شو له انټرنېټ نه مناسبه او معقوله ګټه واخلو؟ په دې اړه په ټولګي کې بحث سره وکړئ.

انټرنېټ یوه پیچلې اطلاعاتي ارتباطی شبکه ده چې ډېر خدمتونه وړاندې کوي. انټرنېټ په علمي، فني، اقتصادي، سوداګری، ټولنیزو، فرهنګي او سیاسي برخو کې فعالیت کوي. په بل عبارت انټرنېټ یوې عمومي مجلي ته ورته دی چې په هغې کې له مختلفو شیانو سره آشنا کیږو، له دوستانو سره په لرې فاصلو کې اړیکې نیسو، د نړۍ له حال او احوال، له سترو فکرونو، له جنایت، غلا، اخلاقي ضد چارو او د ډېرو نوروموضوعاتو نه خبریږو. د وړاندوینې سره سم، په راتلونکو کلونو کې به د ټکنالوژۍ وضعیت نړۍ د اړیکو په تړاو د یوکور په شان کړي او د مصنوعي سپوږمکیو له لارې به دغه اړیکې نړۍ یوله بله سره ونښلوي.

څرنګه چې لیدل کیږي زیاتره اړیکې په تعلیمي مؤسسو، تعلیمي مرکزونو او څېړنیزو مرکزونو پورې اړه لري. نو ویلای شو چې د تعلیمي مرکزونو، محصلین او متعلمین د ټولنې د علمي قشر په صفت له ټولو زیات له دې اړیکو سره تړاو لري. د دې موضوع په نظرکې نیولو سره، کولی شو له نوي تکنالوژۍ څخه د ټولنې د ملي او اسلامي ارزښتونو مطابق ګټه واخلو چې د فرهنګ د پراختیا او په علمي، فني، تخصصي برخو کې پرمختګ او د علمي بنسټونو د ودې په چارو کې

ګډون وشي. په هره ټولنه کې د نړۍ لید یو چوکاټ موجود وي چې دا نړۍ لید(جهان بیني) ودې، پرمختګ، روزنې او سمون ته اړتیا لري. په دې نړۍ کې چې موږ ژوند کوو یوازې ناروغي او فساد نشته، دا نړیوال نظام د مثبتو او منفي اړخونو لرونکی دی، نو دا په موږ پورې اړه لري چې باید په منطقي انتخاب لاس پورې کړو.

فرهنګي یرغل

فرهنګ د انسانانو ځانګړتیاوې لري. همداسې چې انسانان د اطلاعاتو او افکارو په مبادله لاس پورې کوي او د سولې په حالت کې ګډ ژوند ته دوام ورکوي، فرهنګونه هم همداسې دي. ځیني وختونه همداډول مبادله صورت نیسي او یو بل ساتي او اصلاح کوي یې. دا مبادله کولی شي د دواړو اړخونو د دوامدارې پرمختیا لامل شي، خو ځینې وختونه فرهنګونه هم د انسانانو په څیر د یو بل پرضد جنګ یا تیری اعلانوي. په پخوا زمانو کې د جنګونو او د تن په تن جګړو په پایله کې یو فرهنګ په بل فرهنګ غالب(زورور) یا مغلوب کېده، خو نن ورځ جسماني تلفاتو ته اړتیا نشته، بلکې د تبلیغاتو، مصرف او تولید له لارې کولی شو د برید لاندې فرهنګ عقیدې ته د تغییر ورکولو په پایله کې هماغه د پخواني دوران کار سرته ورسوو. دې واقعیت ته باید پام ولرو چې مغلوب یا پړ فرهنګ دی چې ضربه ویني او تیری ورباندې کېږي. همداسې چې یو میکروب(وایروس) همیشه او په هر ځای کې د ناروغۍ سبب کېږي. خو دا میکروب به ټول ناروغه نه کړي او هغه څوک به ناروغه شي چې وجود یې ضعیف وي او بدن یې د میکروب د جذبېدو لپاره اماده وي، فرهنګي تیری هم همدا ډول دی، هغه هېوادونه د فرهنګي تیري لاندې نه راځي چې داخلي چمتوالی ورته ولري.

کوم شي چې زموږ هېواد د پردیو له زیان او افت نه ساتلی دی، هغه زموږ فرهنګ او تمدن دی. افغانستان څو څو ځلې د پردیو د تیریو لاندې راغلی دی، خو هېڅکله زموږ شتمن او ویاړلی فرهنګ چې تل د اسلامي عقیدو او د ملي او هېواد پالنی په بنسټونو ولاړ دی، نه یوازې دا چې ماتې نه ده خوړلې او له منځه نه دی تللی، بلکې دښمنان او تیري کوونکي یې تل په ګونډو کړي او تسلیمېدو ته یې اړ کړي دي. که نه نو موږ به هم د کمزورو هېوادونو په شان خپله ژبه او فرهنګ له لاسه ورکړي وای. زموږ ګران هېواد افغانستان له یوې ځواکمنې فرهنګي مخینې

نه برخمن دی. د دې فرهنګي مخينې پر بنسټ او په ځانګړې توګه هغه دوه مهم عناصر، لکه: عقيده او ژبه چې ريښې يې د خلکو د طبقو او قشرونو په منځ کې ځغليدلې دي، خلکو ته دا ځواک او قوت ورکوي چې فرهنګي بريدونو ته ماتې ورکړي، د نويو فرهنګي تېريو پر وړاندې ودريږي او مقاومت وکړي.

د لوست تکرار

- ....
- ....
- ....
- ....
- ....

پوښتنې

١- د خلکو ترمنځ د اړيکو نه شتون په يوه ټولنه کې څه پايلې درلودلای شي؟

٢- ټولنيزې رسنۍ په فرهنګي اړيکو کې څه رول لوبوي؟

٣- ستاسو په آند له ټولنيزو رسنيونه معقوله ګټه اخيستل کوم دي؟

٤- کوم هېوادونه زياتره تر فرهنګي تېرې لاندې راځي؟

٥- کوم وضعيت ته فرهنګي تېرى ويلاى شو؟

کورنۍ دنده

د ټولنيزو رسنيو دوه مثبتې او دوه منفي اغيزې وليکئ او بيا يې په ټولګي کې ولولئ.

د لومړي څپرکي لنډيز

۱- خلک د فرهنگ له لارې کولای شي هغه ورتیاوې ترلاسه کړي چې د ژوندي پاتې کیدو او بقا لپاره په مختلفو طبیعي چاپېریالونو کې لازمې دي، د بیلگې په توگه: څرنگه خوراکي توکي را ټول کړي، پاخه يې کړي، څرنگه کالي واغوندي او د ځان لپاره کور جوړ کړي.

۲- هغه چارې چې يو وگړی يې د يوې ټولنې د غړي په توگه سرته رسوي او که چېرته له هغه نه سرغړونه وکړي او مجازات شي، قواعد گڼل کيږي.

۳- عقیده او باور د ټولنې اعتقادي او عام اصول دي چې د اجرا کولو له ذمه وارۍ سره تړاو لري او د ټولنې لوړ ارزښتونه منعکسوي.

۴- سمبولونه یا نښې د هغو حالاتو ښکارندويي وي چې انسان په ورځني ژوند کې ورسره مخامخ کيږي.

۵- د سمبول اساسي نظام په ټولنه کې ژبه ده. ژبه په ټولنیز ژوند کې لوی ضرورت گڼل کيږي او له هغې نه کار اخیستل د ټولنیز انسان له ځانگړنو څخه شمېرل کيږي.

٦- اوسمهال ډېر وخت اړيکې او تماسونه د ټولنیزو رسنیو د وسایلو په واسطه سرته رسیږي. لکه: ټلویزیون، راډیو، ورځپاڼه، انټرنېټ، مجلې او داسې نور.

روښانه ده چې د تکنالوژۍ اغېزې د يوه هېواد په ټولنیز ژوند، تاریخي عنعناتو، له فرهنگي ځانگړتیاوو او عقایدو سره اړيکې لري.

دويم څپرکی

ټولنيزې ډلې

په دې څپرکي کې لاندې لوستونه لولئ:

- ډلې څه شی دی؟
- د ډلې جوړښت
- د ډلې رهبري.

د ښځې کي موخې

زده کوونکي به د دې ښځ کي په پای ک وکولای شي چې:

- د ډلې مفهوم درک کړي.
- د ټولګي او ډلې توپیرونه واضح کړي.
- د ډلې په جوړښت پوه شي.
- د رهبرۍ په معنا پوه شي.
- د ډلې د رهبرۍ خاصیتونه څرګند کړای شي.

ټولنيزه ډله

خبرې پرې وکړئ

دې تصوير ته په ځير سره وګورئ او داسې فکر وکړئ دا هغه ټولګی دی چې تاسې په هغه کې لوست کوئ نو:

تاسې ټول د دې ټولګي غړي ياست، همزولي ياست او يو د بل په څنګ کې کښينئ، ګډ ښوونکی لرئ، په ګډه يو شي ته خاندئ او په ګډه له يو شي نه خوابدي کيږئ. د ځانګړيو صفاتو درلودل او د زيات ګډ فعاليت درلودل تاسې له نورو ټولګيو او ګروپونو څخه جلاکوي، د بېلګې په توګه: ستاسې د ښوونځي د يوولسم ټولګي ښوونکی بل شخص دی، د هغو زده کوونکو عمر له تاسونه لوړ دی، لوستونه مو سره توپير لري. نو ويلی شو چې ستاسو ټولګی د ګډو خصوصياتو او فعاليتونو درلودونکی دی. چې تاسې له نورو نه جداکوي، د بيلګې په توګه: تاسې په ټولګي کې داسې کړنې او فعاليتونه، لکه: (**يوځاې درس ويل**)، (**له يوبل سره د لوستونو په زده کړه کې مرسته کول او کورنۍ دندې**) په ګډه سرته رسوئ، تاسې په اسانۍ سره کولی شئ له خپلو ټولګيوالو سره اړيکې وساتئ، کولی شئ له هغو سره په آسانۍ خبرې اترې وکړئ، د درسي ستونزو په اړه يوله بله پوښتنې وکړئ، دې کارونو ته متقابلې اړيکې يا متقابل عمل وايي، نو پردې بنسټ ويلی شو: ډله له هغو خلکو جوړه ده چې د ګډو خصوصياتو لرونکې وي او يو له بل سره ګډې ټولنيزې متقابلې اړيکې يا متقابل عمل ولري او دا اړيکې تر يوه حده منظمې او پايداره وي او هغوی پوهيږي چې دوی د دې ډلې يوه برخه ده، نو ويلی شو چې ډله د انسانانو مجموعې ته ويل کيږي چې ګډ خصوصيات او فعاليتونه ولري اوله يو بل سره نسبتاً پايدارې اړيکې لري. ټولپوهان ډله داسې تعريفوي: **ټولنيزه ډله له هغه واحد څخه عبارت دی چې د دوه يا له دې زياتو وګړو څخه چې د هغو ترمنځ نسبتاً پايداره متقابل عمل موجود وي چې په نوم او ډول مشخص کيږي. د ګډ تفاهم لرونکي وي، د فکر او عاطفې له اړخه هم خپل ځانونه يو بل ته نژدې بولي، د ګډ ارمان او هدف لپاره يو له بل سره مرسته او لاس نيوی کوي چې همدا ډله هغه ته د رسيدو په مقصد منځ ته راغلی دی.** له پورتني تعريف څخه دې پايلو ته رسيږو چې:

۱- د ډلې غړې د متقابل عمل درلودونکي دي او يو له بل سره متقابل عمل لري.

۲- دوی په دې پوهیږي چې د ډلې غړي دي.
۳- دګډ تفاهم لرونکي دي او د روحیې، عاطفې او فکر له اړخه خپل ځانونه یو بل ته نژدې احساسوي.
٤- یوهدف او ارمان لري او هغه ته د رسېدو لپاره له یو بل سره مرسته کوي.

خبرې پرې وکړئ

ځو کسان په نظر کې و نیسئ چې په یوه لوبغالي (استدیوم) کې راټول شوي دي چې د فوټبال لوبه وګوري:

- ستاسي په اند! آیا دې خلکو ته ډله ویلی شو؟ په داسې حال کې چې هغوی د فوټبال لوبې د لیدلو غوښتونکي دي؟
- آیا هغه ځانګړتیاوې چې یوه ډله یې لري، په دې ډله کې لیدل کېږي؟

تاسې له ډېرو خلکو سره اړیکې او متقابل عمل لرئ او همدارنګه تاسې د لومړنیو ډلو، لکه: له کورنۍ، د همزولو او د دوستانو له ډلې نه پرته له نورو ډلو سره هم اړیکې لرئ، د بېلګې په توګه:

- هغه کسان چې یو ورزشي لوبغالي ته د فوټبال د کتلو لپاره ځي، کېدای شي له نورو سره په ګډه د خپلې خوښې ټیم وهخوي، خپل څنګ ته ناست شخص نظر د فوټبال د لوبې په هکله و پوښتي او کېدای شي خپل نظر هم هغه ته ووایي. خو د ملي بس د مسافرو، یا د هغو خلکو چې د فوټبال د لوبې د کتو لپاره لوبغالي ته ځي، ګډ خصوصیات او ګډ فعالیتونه ډېر محدود او متقابلې اړیکې یې هم نا دوامه او بې ثباته وي. په دې اساس یو شمېر خلک چې په یو مشخص ځای کې د کومې پېښې او یا په کوم بل علت سره راټولېږي، د ټولنیزو اړیکو د ډول له لحاظه، ډېره ابتدایي اوبې ثباته ټولنیزه ډله ګڼل کېږي. د دې خلکو اړیکې مؤقتي،نا دوامه او په آسانۍ سره له منځه ځي. ځکه له دې ماحول نه له وتلو سره سم یې له یو بل سره اړیکې ختمیږي. دا رنګه ډلګی هېڅ ډول شکل، سازمان یا ګډې ځانګړتیاوې چې باید یوه ډله یې ولري نه لري. دې ډول ډلو ته دویمه درجه ډله هم وایي.

ګڼه ګوڼه: لاندیني انځورته په ځیر سره وګورئ او وواياست چې په دې انځور کې څه شی ګورئ. په دې انځور کې یو شمیر خلك وینئ چې د ډوډۍ پر وړاندې په قطار کې ولاړدي او د ډوډۍ رانیولو ته انتظار باسي. د دې خلکو چې د ډوډۍ پر وړاندې ولاړ دي ګډ خصوصیات د ډوډۍ اخیستل دي. هغوي د یوې لنډې مودې لپاره د یوبل په څنګ کې پاتې کېږي. د کورنۍ د غړو، دوستانو، ټولګیوالو او همزولو اساسي توپیر له هغو کسانو سره چې د یوه ډوډۍ **پخوونکي** خوا ته په یو ملي بس او یا په یو لوبغالي کې دي لیدل کېږي. د وروستۍ ډلې متقابلې اړیکې مؤقتي

او بې ثباته دي، هغوی مشخص خصوصیات او فعالیتونه نه لري او داسې جوړښت نه لري چې له سلسله مراتب او د کار ویش نه بر خمن وي، د بېلگې په توگه: د فوټبال د ټیم طرفداران یوه ډله یا گڼه گوڼه جوړوي هغوی له لوبې څخه وروسته هر لوري ته خپرېږي، عادي حالت ته راگرځي او د لوبغالي څخه له راوتلو وروسته له یو بل سره هیڅ اړیکې نه لري.

ټولنیزه ټولگه

یوه ټولنیزه ډلبندي ده چې افراد د ځانگړو خصوصیاتو په بنسټ په هغې کې گډون کوي، لکه: هغه کسان چې یو ډول شغل او مشابه عاید ولري، لاندینۍ بیلگې ته پام وکړئ:

- د یوه ښوونځي هر ټولگی یو اول نمره لري. دا زده کوونکي یو له بل سره هېڅ ډول ټولنیزې اړیکې نه لري، خو د ښوونځي مدیر دا زده کوونکي د ښوونځي د اول نمره گانو د ډلگۍ په توگه پیژني او پوهیږي چې ۴۰ کسه اول نمره زده کوونکي لري.

د ډلې، گڼې گوڼې او ټولنیزې ډلگۍ پرتله په لاندیني جدول کې په روښانه توگه ښودل شوې ده.

عنوان	ځانگړتیاوې	مثال
ډله	گډې ځانگړتیاوې. - متقابلی اړیکې یا ټولنیز عمل - منظمی او باثباته اړیکې	کورنۍ - همزولي - گاونډي
گڼه گوڼه	نا دوامه او بې ثباته اړیکې د متقابلو اړیکو نشتوالی د گډو خصوصیاتو او فعالیتونو نشتوالی	- د نانبایي په قطار کې ولاړ خلک - د سرویس مسافر - په لوبغالي کې د فوټبال کتونکي
تولنیزه ډلگۍ	- د یوگډ خصوصیت درلودل - خو د متقابلو اړیکو نشتوالی	- د یو ډول دندې درلودونکي - اول نمره گان

د مرجع ډله

تاسې هره ورځ ښوونځي ته ځئ، د سواد له زده کړې پرته نورې موخې هم لرئ. ممکنه ده د هغې لېوالتیا له کبله چې له خپل ښوونکي سره يې لرئ، غواړئ چې ښوونکي شئ. له دې امله هڅه کوئ چې د ښوونکو په څېر خپل معلومات او پوهه زیاته کړئ. تاسې هڅه کوئ چې د خپلو ښوونکو کړه وړه زده کړئ او هغو کړو وړوته چې ښوونکی ارزښت ورکوي اوښه يې بولي تاسې هم هغه کار سرته رسوئ. په دې ډول ښوونکی ستاسې لپاره د مرجع ډله ده. په دې توګه د مرجع ډله هغه ډله ده چې فرد د هغې غړی نه دی، خو د هغې ډلې سره د يو ځای کېدو يا مشابه کېدو هیله لري.

د لوست تکرار

- ....
- ....
- ....
- ....
- ....

پوښتنې

۱- ډله تعریف کړئ؟

۲- ټولګه او ډله څه توپیر لري؟

۳- هغو کسانو ته چې د نابيايي په قطار کې ولاړ وي ډله ويلی شو؟

٤- ډله څه ډول جوړيږي؟

٥- ګڼه ګوڼه له ټولنيزې ټولګې سره څه توپیر لري؟

کورنۍ دنده

د ډلې، ګڼې ګوڼې او ټولنيزې ډلګۍ په هکله يو يو مثال و ليکئ او بيا يې په ټولګي کې د زده کوونکو پر وړاندې ولولئ.

د ډلو جوړښت

خبرې پرې وکړئ

ځرنګه چې په تېر لوست کې دا روښانه شوه چې وګړی سره له دې چې خپل فردیت ساتي د دې په څنګ کې ځان د یوې ډلې غړی بولي، د پورته مطلب په نظر کې نیولو سره لاندې پوښتنوته ځواب ورکړئ.

١- آیا د څوکسانو په را ټولیدو یوه ډله تشکیلېږي؟

٢- ټولنیزه ډله څنګه جوړیږي؟

د خلکو هڅه د دې لپاره چې له یو بل سره اړیکې ونیسي یو داسې واقعیت دی چې په هر ځای کې د هغه شاهدان یاست:

- په ملي بس کې د لارې په اوږدو کې د خبرو او صمیمت پیل کول.
- د مینې او صمیمت ښکاره کول او له نورو سره مرسته کول دا د هغو هڅو بېلګې او نمونې دي چې خلک یې یو له بل سره د اړیکو نیولو، د دوستۍ او همغږۍ د پیداکولو لپاره سرته رسوي.

خو یوازې د څوکسانو په راټولېدو سره یوه ډله نشي جوړیدای. جوړه شوې ډله ممکنه ده ډېره سطحي او محدوده وي چې له دې امله به ډېر ژر له منځه ولاړه شي. لکه په یوه لیني سرویس کې چې یو شمېر کسان همسفره وي، هغوی که ان د سفر په اوږدو کې ډېر زیات صمیمي هم وي، خو کله چې مقصد ته ورسیدل د دوی اړیکې له منځه ځي او هرڅوک پخپله لاره ځي.

هر څومره چې د ورته والي او ګډو اړیکو کچه ډېره وي، جوړې شوې اړیکې لا پرمختګ کوي، په دې ډول د دواړو خواو تعامل لا دوامداره کېږي، په داسې حالت کې وګړي یوه ډله پېژندل کېږي.

فعالیت

یو له بل سره د خلکو دوستي، د اړیکو ټینګولو او د دوست پیداکولو هڅه د څه لپاره ده؟

خلک ولې د ژوند په هره دوره کې د صمیمي دوستانو د موندلو او اړیکو ټینګولو په هڅه کې وي؟

ځینې فیلسوفان د دې پوښتنې په ځواب کې وایي چې انسان په طبیعي توګه ټولنیز موجود دی، دا هڅې د انسان له طبیعي غوښتنې نه سرچینه اخلي چې غواړي ټولنیز ژوند جوړ کړي او خپلې اړتیاوې پوره کړي. دا هیلې او اړتیاوې له نوروسره د هغه د ټولنیزو اړیکو د ټینګوالي سبب ګرځي چې د ټولنې د دوام او ثبات لامل ګرځي.

ممکنه ده چې دا اوس تاسې د څو ډلو غړیتوب ولرئ، خو ولې په دې ډلو یا ډله کې شامل شوي یاست؟ تجربو ښودلې ده چې وګړي معمولاً په څو دلیله له یوې ډلې سره یوځای کیږي:

۱- ډله د خپلو غړو رواني (ارواحي) او ټولنیزې اړتیاوې پوره کوي، په دې معنا چې انسان ته د ډلې په غړیتوب سره دا احساس پیدا کیږي چې فکر وکړي هغه له همدې ډلې سره تړاو لري او په ډله کې د پاملرنې، مینې او محبت وړګرځي.

۲- د ډلې غړي په ډله کې د رواني او ټولنیز امنیت احساس کوي .

۳- انسانان په ډله کې د کار او فعالیت لپاره ډېره لېوالتیا ښیي.

٤- ډله په هغو کارونو کې مرسته کوي چې د ډلې غړي یې په سرته رسولو کې بې وسي شي.

٥- د ډلې غړي د هغو معلوماتو او پوهې په را ټولولو کې چې هر غړی یې په یوازې توګه نشي کولی لاس ته راوړي، مرسته کوي.

٦-د ډلې غړي زیاتره یو د بل لپاره علم او خبرونه چمتو کوي چې هر غړي هغو ته د رسیدلو توان نه لري.

ستاسې په اند کورنۍ څنګه او د څه لپاره جوړېږي؟

د کورنۍ ډله د ټولنيزې ډلې د اصلي ډلې په نوم خپل پايښت د واده او تولد له لارې ساتي. کورنۍ هغه ډله ده چې غړي يې د نسبولي او خپلولۍ لرلو له کبله په خپلو کې صميمانه، تل پاتې او کلکې اړيکې لري.

خبرې پرې وکړئ

آيا پوهيږئ چې کوم شيان د دوستانو ترمنځه د اړيکو لامل ګرځي؟

د دوستانو ډله په نظر کې ونيسئ، څوکسان د دې لپاره چې همزولي دي، خورا ښه کولی شي يو بل سره پوه کړي، هغوی يو له بل سره خبرې کوي، دوستي کوي، کورنۍ دندې سرته رسوي، يو ځای لوبې کوي، له دې کبله په دې ډله کې غړيتوب د احساس پر بنسټ رامنځ ته کيږي او د کورنۍ‌په ډله کې غړيتوب د عواطفو له مخې تشکل پيدا کوي.

نور ډولونه هم شته، لکه ورزشي ډله،د همکارانو ډله او نور.... غړيتوب په ځينو ډلو کې آګاهانه او د نو مورې ډلې له معيارونو سره سم رامنځ ته کيږي، که يو کس غواړي چې د دې ډلې غړی شي معمولاً بايد:

بايد يو فورم چې د غړيتوب غوښتنليک دی ډک کړي. له هغو کسانو چې وغواړي په دې ډله کې شامل شي، امتحان اخيستل کيږي. وروسته له منلو له هغه سره قرارداد امضا کيږي. غړيتوب په داسې ډلو کې ټاکلې پړاو لري چې د قرارداد د مودې له پوره کيدو وروسته تاسې د هغه ډلې غړی نه بلل کيږئ. ځينې ډلې وګړي په رسمي توګه د ډلې له غړيتوب څخه د يو مکتوب په ذريعه وباسي او د هغه غړيتوب ملغی کوي.

هغه څه چې مو په دې لوست کې ولوستل داسې پايله ترې اخيستلای شو چې:

کورنۍ د يوې اصلي ټولنيزې ډلې په توګه خپل پايښت د واده کولو او اولادونو د پيداکولو له لارې تضمينوي. کورنۍ ده چې انسان پکې منځ ته راځي او دا کورنۍ ده چې انسان ته ور زده کوي، ترڅو له هغې ډلې سره چې نژدې او صميمي اړيکې لري په آرامه فضا کې ژوند وکړي.

هر انسان د خپلې انساني بشر پالنې او له یوازېتوب نه د لرې کېدو او د ټولنیز ژوند د دوام لپاره د دوستانو ډلې ته ور داخلیږي. دا ډله په همدې ډول لوییږي او زیاتیږي، داسې چې یو شخص کیدای شي د ټولنیز ژوند د تېرولو لپاره په څو ډلو کې غړیتوب ولري. په دې ډول موږ د هر ډول ټولنیز ژوند کولو لپاره د ډلې غړیتوب ته اړتیا لرو.

د لوست تکرار

- ....
- ....
- ....
- ....
- ....

پوښتنې

۱- د کورنۍ او دوستانو ډله څه توپیر لري؟

۲- ډلې ته د انسان د ورتګ لامل څه شی دی؟

۳- ډله څنګه جوړیږي؟

٤- لاندې جملې بشپړې کړئ:

٥- کورنۍ ده چې انسان ....راځي او دا کورنۍ ده چې انسان ورته..........کوي.

٦- په ډله کې غړیتوب د..........له لارې رامنځ ته کېږي.

کورنۍ دنده

آیا تاسې د کورنۍ له ډلې پرته د کومې بلې ډلې غړي یاست؟ ځواب په خپله کتابچه کې ولیکئ او بیا يې د ټولګي په وړاندې ولولئ.

د ډلې مشرتوب(لارښوونه)

په تېر لوست کې مو زده کړل چې ډله څه ډول جوړېږي او تشکل پيدا کوي. په دې لوست کې به د ډلې له رهبرۍ سره آشناشئ.

خبرې پرې وکړئ

په هره ټولنيزه ډله کې داسې کسان دي چې مشرتوب کوي:

- آيا کيدای شي د دې رهبرۍ لامل پيدا کړو؟
- آيا يوه ډله چې موخې ته د رسيدو لپاره فعاليت کوي. له مشر څخه پرته موخې ته رسيدای شي؟
- تاسې په خپله کورنۍ کې د چا اطاعت کوئ؟

زموږ مقصد له رهبر نه هماغه دی چې په انګليسي ژبه کې **ليډر** ورته وايي. هغه څوک چې په ډله کې د تصميم نيولو توان او د پرګنو د باور لومړيتوب لري مشر يا رهبر ورته وايي. هغه سړي ته چې په طبيعي ډول او د وړتيا په ښودلو سره يې د ډلې اداره په لاس کې نيولې ده، د ډلې اړتياوې پوره کوي، هغوی ته ګټور تمام شي او هغوی خپلو موخوته ورسوي د ډلې رهبر دی، لکه: مذهبي مشران، د سياسي احزابو مشران، د هېوادونو رهبران، مشران او نور. **مشري** هغه ځرګنده پديده ده چې تل په ډله کې منځ ته راځي. څوک چې يو بل په زور او جبر يا د هغه پخپل رضايت او پوهې د يو کار سرته رسولو او پريښودلو ته اړ کړي او موخې ته د رسيدو يا د هغه مخنيوي لپاره هغه په حرکت راولي، مشرتوب بلل کېږي.

ولې يوه ډله مشر ته ضرورت لري؟

لاندې بېلګې ته پاملرنه وکړئ: د يوې ورزشي ډلې مشر د يوې لوبې د اداري ترڅنګه د هغې کيفيت هم لوړ وي. هغه هر نفرته د هغه مسؤوليتونه وربه ګوته کوي او هڅه کوي چې د لوبې نيمګړتياوې له منځه يوسي. وينو چې د لوبې له پيل نه مخکې هغه له لوبغاړو سره خبرې کوي او د هغوی نظر د هغو کارونو په اړه چې بايد سرته يې ورسوي پوښتي. د بېلګې په توګه: کله چې غواړي د لوبغاړو د دريدو ځايونه معلوم کړي له ټولو لوبغاړو سره مشوره کوي او بيا تصميم نيسي. نوله دې کبله د يو رهبر يا مشرتوب دنده ډله يېزو موخو ته د رسېدو لپاره د ډلې د غړو په کړو وړو او اعمالو کې د همغږۍ راوستل دي.

آيا پوهيږئ چې د ډلو مشران له کومو ځانګړتياوو څخه برخمن دي؟

که څه هم کومه ځانګړې قاعده وجود نه لري، خو بياهم داسې ښکاري چې مشران د ډلې نورو غړوته ښه ښکاره کېږي، پرهيزګاره د ښه فکر او ښه ذهن خاوندان وي او بالاخره خوږ ژبي او د

قوي عزم او ارادې خاوند وي. پر نفس باندې له فوق العاده اعتماد او باور څخه برخمن وي.

ستاسي په فکر! له دې ځانګړتیاوو پرته چې وویل شول، مشران نورې کومې ځانګړنې لري؟

د مشرۍ سرچینې په بېلابېلو حالاتو کې توپیر لري چې د داخلي او فردي ځانګړنو څخه سرچینه اخلي.

مشرتوب ته رسېدل یا د ټاکنې له لارې او یا انتصابي وي.

ټاکنه کیدای شي د یو سازمان په واسطه او یا د رهبر له خوا وشي. د مشرتوب منشاوې او سرچینې کولی شو داسې ډلبندي کړو؟

- د خلکو له خوا ټاکل شوی مشر(دګوند د خلکو مشر).
- د یوه وګړي له خوا ټاکل شوی مشر.
- د یوه سازمان له خوا ټاکل شوی رهبر (سازماني مشر).
- د خپل ځان له خوا ټاکل شوی مشر (ځان ټاکلی).

د مشر شتون په ټولنه کې اړین دی، ځکه د مشرتابه شتون د هغه پیروانو ته په نفس باندې د باور احساس، ځواک او زیاته ورټیا ورکوي.

د رهبرۍ غوره ځانګړتیاوې او صفتونه په لاندې ډول دي:

۱- مشر باید عادل وي.

۲- رهبر باید پرهیزګار (باتقوا) وي.

۳- رهبر باید مدبر وي، د مهمو چارو د سرته رسولو لپاره تدبیر، تصمیم نیونه او وړاندوینه ډېره اړینه ده.

٤- مشر باید سیاسي او ټولنیز لید او بینایي ولري.

۵- مشر باید د چارو په اداره کولو برلاسی وي. که چیرته اداره کولو (مدیریت) ته پاملرنه ونه شي د مشرۍ مسؤولیت سرته نه شي رسولای.

٦-مشر باید پلان او پروګرام ولري.

۷-مشر باید زړور وي. هغه مشر چې زړور نه وي نه شي کولای چې په طوفانونو کې خپل رعیت په خوځښت راولي، قوت ورکړي او د پېښو او حوادثو مخنیوی وکړي.

۸- ښه تشخیص ولري.

۹- باید کاري ټیم ولري او د هغوی ترمنځه مرستې او محبت ته وده ورکړي.

۱۰- موضوع په چټکۍ سره تشخیص کړای شي.

۱۱- له تصمیم نیولو وروسته په چټکۍ عمل وکړي.

۱۲- مشر باید له فساد او جنایت نه لېرې وي.

۱۳- په تصمیم نیولو کې چټک وي.

۱٤- په اقدام کولو کې چټک وي او موخو ته د رسېدو لارې ته دوام ورکړي.

۱۵- د انتقاد ظرفیت ولري.

۱۶- مشر باید خپل مسؤولیت وپېژني او پوه شي چې رهبري یو لوی امانت دی، ده ته ور په غاړه دی او د هغه ځواب ورکوونکی دی

۱۷- رهبر باید داسې ځانګړتیاوې ولري چې یوازې په ده پورې تړاو ولري، ترڅو وکولای شي د یوې مشرۍ ترلاسه کړي.

آیا پوهیږئ د مشرتوب څو طریقې موجودې دي؟

ټولنپوهانو په ډله کې د متقابل عمل څېړنې په ترځ کې د مشرۍ درې ډولونه پېژندلي دي:

د خلکو مشر، مطلقه مشر، بې قیدوبنده مشر.

۱- **د موکرات مشر**: د موکرات مشر د ډلې موخوته د رسېدو لپاره د ډلې نظریات او وړاندیزونه د خپلو چارو اساس ګڼي، تصمیم نیول به د ډله ییز توافق پر بنسټ وي، د مشر دنده د ډلې د عمومي تګ لارې د ټاکلو په برخه کې د ډلې د غړو هڅول او مرسته ده. د کاروېش خپله غړو ته پرېښودل کېږي او هر څوک په خپلواکه توګه له هر چا سره چې وغواړي کولی شي کار وکړي. مشر د ګروپ یو مسؤول غړی او د کارونو په سرته رسولو کې ګډون لري. دا ډول مشر په بحراني وختونو کې لږ بریالیتوب لري، خو د ټولنې او ډلې د دوام او سمون د تضمین په اړه د مطلقې رهبرۍ په پرتله له ډېر ګټور توب او مؤثریت نه برخمن دی. نوموړي مشران د ډله ییز تصمیم نیولو په برخه کې د ګروپ د غړو ګډون ته ډېر ارزښت ورکوي.

۲- **مطلقه مشر**: په دې ډول مشرۍ کې د ډلې د فعالیت او چارو د سرته رسولو تصمیم د مشر په خوښه نیول کېږي. د هر چا چارې او همدارنګه له هر چا سره مرسته مشر ټاکي. نوموړی په ډله کې په خپله خوښه تصمیم نیسي. په ډله ییزو چارو او فعالیتونو کې برخه نه اخلي.

دا ډول مشري د ډلې د ډېرو غړو د منلو وړنه ده. دا ډول مشرتوب د ډلې یا ټولنې د غړو د موخو، مقرراتو او کړو وړو ټاکونکی دی. دا ډول مشري کولی شو په وسلوالو ځواکونو، دیکتاتوري حکومتونو، صنعتي او سوداګریزو تشکیلاتو، او په پلار سالارو کورنیو کې ومومو.

د پورتنیو مطالبو د بیان پر بنسټ او د ډلې د غړو په مرسته د څلورو مطلقه مشرانو نمونه واخلئ.

۳- **بې قیدو بنده مشري**: په دې ډول مشرۍ کې مشر بې قیده دی او په اداره کې د ډلې د سمون په اړه ډېره لږه پاملرنه لري- وګړي د کار د سرته رسولو په انتخابٍ کې کاملاً خپلواک دي.

د مشر رفتار او کردار د ډلې له غړو سره دوستانه دی او معمولاً د غړو د کړو وړو صفت او یا پرې نیوکه نه کوي.

له پورته مطالبو څخه څه ناخه د ډلې د مشرۍ په اړه پوه شوئ او دا مو زده کړل چې په یوه ډله کې مرسته او د مسؤولیت احساس اړین دی. همدارنګه اړینه ده چې هره ډله خپل ځان ته یو رهبر ولري، د دې لپاره چې د ګروپ چارې په ښه توګه سرته ورسیږي، د ګروپ غړي باید د رهبر یاد خپل مشر پیروي وکړي.

رهبر هم د ګروپ له غړو سره په مشوره کولو کې د ټولو لپاره یو د دوستۍ چاپېریال جوړوي.

د لوست تکرار

•..

•..

•..

پوښتنې

۱- مشر تعریف او له یو مثال سره یې واضح کړئ.

۲- مشري تعریف کړئ او د مشرۍ یوځو نمونې وښایاست.

۳- د مشرۍ ټاکنه څرنګه رامنځ ته کېږي، لنډ معلومات ورکړئ.

٤- د مشر غوره صفتونه بیان کړئ.

٥- د مشرۍ څو ډوله لارې موجودې دي، په لنډه توګه یې توضیح کړئ.

کورنۍ دنده

دموکرات مشر له مطلقه مشر سره پرتله کړئ، توپیرونه یې ولیکئ او د ټولګي پر وړاندې یې ولولئ.

د دویم څپرکي لنډیز

۱- ډله د هغو خلکو له مجموعې نه جوړه ده چې د ګډو خصوصیاتو لرونکي دي او له یو بل سره ګډې ټولنیزې متقابلې اړیکې یا متقابل عمل ولري او دا اړیکې تر یوه حده منظمې او دوامداره وي.

۲- ګڼه ګوڼه: د ډېرو خلکو څخه عبارت دی چې د هغوی متقابلې اړیکې مؤقتي او لنډ مهالې وي، هغوی ځانګړې او معلوم فعالیتونه نه لري، وروسته له هغه کاره چې د هغې لپاره راغونډ شوي وو، بېرته خپرېږي.

۳- ټولنیزه ټولکه: هغه ډله بندي ده چې افراد په کې د ځانګړو خصوصیاتو له مخې ګډون لري، لکه: یو ډول شغل یا د مساوي عایداتو کچه.

۴-خلک ځکه د ډلې غړیتوب لاس ته راوړي چې د هغوی اروا یې او ټولنیزې اړتیاوې، لکه: د ډلې د غړیتوب درلودل، د پاملرنې او یا د مینې او محبت وړ ګرځېدل پوره کوي.

٥- د دوستانو په ډلې کې غړیتوب د احساس له مخې تشکل مومي او غړیتوب د کورنۍ په ډله کې د عواطفو له مخې جوړېږي.

٦- هغه کس چې په ډله کې د تصمیم نیولو توان او د پرګنو د باور لومړیتوب لري، مشر یا رهبر ورته وایي.هغه کس ته چې په طبیعي ډول او د ورتیا په ښودلو سره د ډلې اداره په لاس کې ونیسي د ډلې اړتیاوې پوره کړي، هغوی ته ګټور تمام شي او هغوی خپلو موخو ته ورسوي د ډلې مشر بلل کېږي.

دریيم څپرکی

ټولنيز بنسټونه

په دې څپرکي کې لاندې لوستونه لولئ:

۱- ټولنيز بنسټ

۲- ټولنيز بنسټ

۳- ټولنيز بنسټ

۴- د بنسټونو متقابلې اړيکې.

د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په پای کې وکولای شي چې:

- ټولنيز بنسټ تعريف او د ټولنيز بنسټ له ماهيت سره اشناشي.
- د غوره ټولنيزو بنسټونو لېست جوړ او لومړي او دوهم بنسټونه توضيح کړای شي.
- د ټولنيزو بنسټونو غوره کړه وړه توضيح کړای شي.
- د ټولنيزو بنسټونو متقابلې اړيکې و پېژني.
- د هغه رول په هکله چې په خپل اړوند ټولنيز بنسټ کې يې لري، مثبت ذهنيت پيدا کړي.

ټولنيز بنسټ (نهاد) (۱)

په تېر لوست کې مو ولوستل چې موږ د هر ډول ژوند کولو لپاره په ګروپ کې غړيتوب ته اړتيا لرو. همدا رنګه انسان استوګنځي، خوړو، کاليو، کار، زده کړې، امنيت، محبت او ... ته اړتيا لري او د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره يې له پخوا نه تر اوسه له مختلفو لارو څخه استفاده کړې ده. د دې مطلب په نظر کې نيولوسره:

- آيا ويلای شئ د دې اړتياو پوره کول څنګه او له کومې لارې څخه سرته رسيدای شي؟

بنسټ هغه دوامداره اړيکې دي چې د اړتياوو د پوره کولو لپاره منځ ته راغلي دي.

د دې لپاره چې هره ټولنه وکولی شي ژوند ته دوام ورکړي، بايد خپلې مختلفې اړتياوې پوره او له منځه يوسي. د تاريخ په اوږدوکې د دې اړتياو د پوره کولو لپاره اړيکې منځ ته راغلي، جوړښت يې مونډلی او دوام يې پيداکړی دی چې هغو ته بنسټ وايي.

د بنسټ اصطلاح(Social Institution) له معادل څخه چې په لاتيني ژبه کې مستقر کيدلو، جوړولو او تثبيتولو په معنا ده اخيستل شوې ده.

د انستيتوت(Institute) کلمه د يوناني ريشې(Institutor) نه اخيستل شوې ده چې د بنسټ او بنياد معنا ورکوي او د انتخابولو او ځاي پر ځاي کولو په معنا هم را غلې ده. د مؤسسې، مکتب او يا هغو ځايونو په معنا هم راغلې ده چې هلته خلک د لوړو تحصيلاتو په زده کړه بوخت دي. په فرانسوي ژبه کې دا اصطلاح ديو اورګانيزم او يا يو ډول ټولنيز سازمان لپاره په کارېږي.

په دري ژبه کې نهاد د نهادن له کلمې نه مشتق شوې دی چې ډول ډول معناوې لري، لکه: ثبات، استحکام، اصل، ريښه، روش، قانون، اساس، بنياد، قرار، سنت او داسې نور او په پښتو ژبه کې د بنسټ او بنياد معنا لري.

که چیرته ټولنه د پایښت او دوام غوښتونکې وي باید د هغې اساسي اړتیاوې پوره شي. د بېلګې په توګه: کوچنیان باید تر پالنې لاندې ونیول شي چې وده وکړي، فرهنګي اطلاعات باید له یو نسل نه بل نسل ته انتقال شي، د ټولنې ارزښتونو او قواعدو ته باید درناوی وشي ترڅو ښه ټولنیز نظم منځ ته راشي، توکي او خدمتونه باید تولید او وویشل شي. نو له دې کبله ویلی شو چې ټولنیز بنسټ یعنې هغه دوامداره اړیکې دي چې اړتیاوې لیرې کوي. هره ټولنه د وخت په اوږدو کې د اساسي اړتیاو د پوره کولو لپاره په منظمو او پیچلیو اقدامونو لاس پورې کوي. دا ډول کړه وړه د ټولنې د پایښت او بقا د اړتیاوو له کبله منځ ته راځي او دوام پیدا کوي. خو دا اړتیاوې په ټولو ټولنو کې یو ډول نه دي. دا جوته ده چې اړتیا نه وي بنسټ منځ ته نه راځي او دوام نه کوي، د بېلګې په توګه:

• کورنۍ او واده داسې بنسټ دی چې د وګړو ژوند او شتون په هغې پورې تړلی دی او د کورنۍ د ټولو چارو سمون ورکوونکی دی. د کوچنیانو د روزنې، پالنې له دندې نه علاوه د بشر د پایښت لامل ګرځي. نورې ډیرې دندې لکه: اقتصادي فعالیتونه، ښوونه او روزنه، ټولنیز کول او نور هم پر غاړه لري.

• دا ضروري وه چې د پخوانیو خلکو فرهنګي میراث را تلونکو نسلونو ته انتقال شي، د همدې مقصد لپاره د ښوونې او روزنې بنسټ منځ ته راغلی دی.

• ټولنه نظم ته اړتیا لري او لازمه ده چې عمومي چارې یې سمون او نظم پیدا کړي له دې کبله سیاسي بنسټ منځ ته راغی.

• ټولنې اړتیا درلودله چې د وګړو اړیکې مشخصې او جوتې شي. د دې لپاره حقوقي بنسټ جوړ شوی دی او داسې نور.

پرتله یې کړئ

- د انسانانو په اړتیاوو کې کوم توپیرونه وینئ؟

- آیا پوهیږئ د لرغوني عصر د انسانانو او اوسنیو انسانانو د اړتیاوو پوره کولو په لارو کې کوم توپیرونه موجود دي؟

څرنګه چې وویل شول بنسټونه د انسانانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره منځ ته راځي، دا اړتیاوې کولی شو د اهمیت له نظره په دوو ډلو وویشو:

• **لومړۍ درجه اړتیاوې**: هغه اړتیاوې دي چې له هغو پرته د انسان ژوند نا ممکن وي، لکه خوراک، پوشاک، اوبه، استوګنځی او نور.

• **دوهمه درجه اړتیاوې**: هغه اړتیاوې چې د ټولنې له موجودیت سره تړاولري او له هغو پرته په ټولنه کې ژوند کول نا ممکن دی، لکه: ښوونه، روزنه، ټولنیز نظم او سمون، سیاست،

دین او داسې نور.

که موږ د انسانانو او ټولنو تاریخ ته نظر واچوو، نو د نفوس د ودې، د کاروېش او د ټولنې د مختلفو برخو د تفکیک کولو له جریان سره مخامخ کېږو. ښځه او نارینه د فطري او جنسي اړیکو له کبله سره واده کوي او د هغه په پایله کې یو شمیر کوچنیان منځ ته راځي چې د دوی دا واده د انسانانو د ډېرښت د نفوس د زیاتوالي او د انساني ټولګیو د واحدونو، لکه: قبیله، ډله او لویو او وړو ټولنو د منځ ته راتلو لامل کېږي. لومړنیو انسانانو یوازې له ښځې او بچیانو سره ژوند کاوه، خپلې مادي اړتیاوې به یې د ښکار، زراعت او د ساده کورونو او وسایلو په ذریعه پوره کولې، خو د خلکو او نفوس د زیاتوالي له امله انسان په لویو ډلو کې نورو مرستو ته اړتیا پیداکوي. د لویو ډلو په اساسي برخو کې چې باید د انسانانو اړتیاوې پوره شوي وای د کار ټولنیز وېش منځ ته راځي، د بېلګې په توګه:

- د کاروېش د ښکار، زراعت او دکور جوړولو د وسایلو په برخه کې.
- د کاروېش له ګټو څخه د دفاع او ساتنې او د حیواناتو او انسانانو د حملو له ګواښ سره د مقابلې د طریقو لپاره.
- د کوچنیانو د ښوونې طریقې په هغو برخو کې چې د هغوی د راتلونکي ژوند لپاره ضروري دي.

د دې ټولنیز و اړیکو په هره برخه کې، یو لړ قواعد او قاعدې منځ ته راځي چې ورو ورو تثبیت او پوره کېږي چې په منظمه او سمون ورکړ شوې توګه اړوندو موخو او د اړتیاوو د پوره کولو لپاره عمل کوي. د بیلګې په توګه: انسان ډېر ژر متوجه شو چې هغه تجربې او پوهه یې چې د ژوند په اوږدو کې لاس ته راوړې ده نه باید له ده سره یو ځای په ګور کې تر خاورو لاندې شي چې بیا یې اولادونه له صفر نه پیل کړي، نود دې پوهې د لیږدولو اقدام یې وکړ او کله چې ورته جوته شوه، د ټولو انسانانو اوګروپونو بریالیتوب د هغو په پوهې پورې اړه لري نو هغه یې ورځ تر ورځې ډېره ښه او په منظم ډول تعقیب کړه.

- د کار د وېش په چوکاټ کې به یو شخص د ښوونکي په نامه د کوچنیانو لپاره ګمارل کیده چې دنده یې یوازې کوچنیانو ته زده کړه وه او عالم شخص ته ځانګړی درناوی کیده. په دې ډول په هره ټولنه کې ورو ورو ښوونه او روزنه له مشخصو او معلومو قواعدو سره منځ ته راغله.
- همدا رنګه د کار له وېش نه راکړه ورکړه، جنس په جنس تبادله، په بازارونو او د خلکو د راټولیدو په ځایونو کې، په تدریج سره د پیسو، بانکي سیستم او بالاخره د اقتصاد بنسټ منځ ته راغی.

• همدارنګه د کار د وېش په پایله کې د ټولنې د ګټو د دفاع او ساتنې په برخه کې امنیتي بنسټونه، نظامي ځواکونه، د عبادت کولو لپاره د مذهب بنسټ او د توکو او وسایلو جوړولو وروسته ورو ورو صنعت منځ ته راغی. انسان له هغې ورځې نه چې ژوند یې پیل کړی دی، په چارو او کړو وړو یې لاس پورې کړ، د وخت او زمان په اوږدو کې په دې پوه شو چې د زده کړې او پوهې لاس ته راوړلو لپاره کومې لارې، طریقې او سلوک منطقي او ګټور دی. په پایله کې یولړ چارې او کړه چې د ژوند کولو لپاره خورا ښه او مناسب وو، ورو ورو یې په دود او دستور کې ځای ونیو چې د بنسټونو جوړوونکې دي. له پورتنیو ذکر شوو مطالبونه داسې پایله اخلو چې بنسټ د ټولنیزو اړیکو یو سازمان ورکړ شوی او منظم نظام دی چې ځینې عام ارزښتونه، ګډ جریانونه په ځان کې رانغاړي او ځینو اساسي اړتیاوو ته د ځواب ورکولو لپاره منځ ته راغلی دی.

د لوست تکرار

•...
•...
•...
•...
•...

پوښتنې

۱- څرنګه چې مو ولوستل: ټولنه د پایښت او دوام غوښتونکې ده، باید د هغې اساسي اړتیاوې پوره شي، دا اړتیاوې کومې دي؟ نوم یې واخلئ.

۲- په لاندې لیکل شویو نومونو کې کوم یو ټولنیز بنسټ نه دی؟

الف: کورنی ب: ښوونځی ج: بانک د: د دوستانو مجلس

۳- د پخوانیو خلکو د فرهنګي میراث لېږد اوسنیو نسلونو ته د کوم بنسټ له لارې سرته رسیږي؟

٤- لاندې جملې بشپړې کړئ.

د دې لپاره چې هره ټولنه وکولی شي خپل ژوند ته دوام ورکړي باید.......................
پوره کړي. د تاریخ په اوږدو کې د دې.................... د پوره کولو لپاره............ جوړ بنسټ یې موندلی او دوام یې پیدا کړی دی چې هغه ته بنسټ وایي.

۵- اړتیاوې د درجې او کچې له نظره په څو ډولونو وېشل شوې دي؟

کورنی دنده

ښوونځی چې د ښوونې یو بنسټ دی، د کومو اړتیاو د پوره کولو لپاره منځ ته راغلی دی؟ د دې سؤال ځواب په کور کې ولیکئ او بیا یې په ټولګي کې ولولئ.

ټولنيز بنسټ (۲)

خبرې پرې وکړئ

تاسو چې د يوې کورنۍ غړي ياست:
د دې لپاره چې په ډاډ سره ژوند و
کړئ، امنيت ته اړتيا لرئ، د پوهې
لپاره ښوونې او روزنې ته اړتيا
لرئ، کله چې نا روغه شئ درملنې
او علاج ته اړتيا لرئ. ايا دا ټولې
اړتياوې يوازې يوه اداره پوره کوي؟
او که ځواب مو نه وي، ايا کولی
شئ هغه بنسټونه چې دا اړتياوې پوره کوي، نومونه يې واخلئ؟

څرنگه چې په تېرو لوستونو کې مو زده کړل، ټولنيز بنسټونه د ټولنيزو اړتياوو له امله منځ ته راځي چې دا اړتياوې په دوه برخو: اصلي او فرعي باندې وېشل کېږي. همدا رنگه کولی شو ټولنيز بنسټونه په لومړنيو او دويمه درجه بنسټونو ووېشو. لومړي بنسټونه عمومي او نړيوال دي او ويلی شو چې تقريباً په هر عصر او زمان، په هره ټولنه کې شته او زيات دوام او پايښت لري.
لومړني پنځه گوني ټولنيز بنسټونه دا دي: د کورنۍ بنسټ، د ښوونې او روزنې بنسټ، د سياست او اقتصاد بنسټ او د دين بنسټ. دويمه درجه بنسټونه تر هغه وخته چې اړتيا ورته موجوده وي دوام پيدا کوي او کله چې اړتيا له منځه لاړه شي، ورو ورو او يا په چټکتيا سره له منځه ځي. د دويمې درجې بنسټونو له جملې نه کولی شو د بانکدارۍ بنسټ، د علم او ټکنالوژۍ بنسټ، د روغتيا او درملنې بنسټ ته اشاره وکړو. په دې لوست کې به په هر يو بنسټ رڼا واچول شي.

د کورنۍ بنسټ

ګرانو زده کوونکو تاسې هر یو په کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولي دي، د کورنۍ په غیږ کې د کورنۍ د لویانو او خپلوانو تر پالنې او ساتنې لاندې روزل شوي او له ټولنیز ژوند سره آشنا شوي یاست. کېدای شي چې تاسې هم یو وخت د کورنۍ جوړولو اقدام وکړئ.

کولای شوچې کورنۍ داسې تعریف کړو: کورنۍ د هغو وګړو ډله ده چې د خپلوۍ د اړیکو په تړاو یې په مستقیمه توګه پیوند موندلی او د هغې لویان د کوچنیانو د پالنې او ساتنې مسئوولیت پر غاړه لري. کورنۍ د ټولنې یو بنسټیز واحد دی چې د انسانانو له خلقت او پیدایښت سره په یوه وخت پیدا شوی دی. کورنۍ او واده کول د ژوند او انساني نسل د بقا لامل کېږي. په واقعیت کې د نسل نوي کېدل په همدې کورنۍ کې رامنځ ته کېږي. له همدې کبله ده چې په مختلفو ادیانو او ټولنوکې کورنۍ ته زیات اهمیت ورکول کېږي. کورنۍ ته معمولاً د ټولنې اصلي بنسټ ویل کېږي. د دې بنسټ اهمیت له دې کبله دی چې د نسل د نوي کیدو، ټولنې ته د وګړو د منلو (ټولنیز کولو) دنده په غاړه لري او په ټولو ټولنو کې لیدل کېږي. انساني کورنۍ یوازې د نسل زیاتوالی په غاړه نه لري، بلکې په هغې کې د شخصیت وده او د ماشومانو ټولنیز کول هم په نظر کې دي. په یوه انساني کورنۍ کې دیني او اخلاقي قوانین، ډېر لوړ عواطف او احساسات موجود دي. څرنګه چې د انسان د ژوند لومړني کلونه د کورنۍ په چاپېریال کې تېرېږي او په دې دوره کې د هغه د شخصیت بنسټونه ایښودل کېږي. هغه ارزښتونه او کړه وړه چې ماشوم یې د کوچنیوالي په پړاو کې له کورنۍ څخه زده کوي پر هغه باندې ډېر اغېز کوي چې د کوچني په تصمیم نیولو او د هغه د ژوند د بهیر په راتلونکي کې ډېر اهمیت لري چې اغېز به یې د عمر تر آخره پاتې کېږي.

د ښوونې او روزنې بنسټ

د ښوونې او روزنې بنسټ د ښوونې او روزنې په برخې پورې اړه لري چې د انسانانو د دې برخې

د اړتیاوو د پوره کولو لپاره منځ ته راغلی دی، نو اوس وواياست چې:

- ستاسې په نظر ښوونه او روزنه د انسانانو په ژوند کې څه اهمیت لري؟

ښوونه او روزنه په ټوله بشري ټولنه کې يو له با اصولو فعاليتونو څخه شمېرل کېږي، ځکه د هرې ټولنې شتون، ځوان نسل ته د فرهنګي ميراث په لېږد پورې تړاولري، ترڅو هغوی د ټولنې له قواعدو او ارزښتونو سره سم تربيه شي او له هغو سره سم چلند وکړي.

د ښوونې او روزنې بنسټ د نورو ټولو ټولنيزو بنسټونو په څېر له يو ټاکلي جوړښت نه برخمن دی او ددې لپاره چې وکولای شي خپلې دندې او کړنې سرته ورسوي، د پلانونو، اصولو، ظوابطو او ځانګړو مقرراتو پيروي کوي. دې بنسټ ډېر شمېر سازمانونه او تشکيلات منځ ته راوړي دي چې وړوکتونونه، ښونځي، پوهنتونونه، د لويانو ښونځي، مدرسې، د داخل خدمت ښوونه، آزاد پوهنتونونه، تګ لارې، پروګرامونه، ميتودونه، د تدريس موډلونه، د ښوونکو ښوونيز پلانونه د زده کوونکو او مديرانو فني او حرفوي ښوونه، ښوونيز تسهيلاتي وسايل، تجهيزات او داسې نورې يې ښکاره بېلګې دي. سربېره پردې د ټولنيزو رسنيو ټول وسايل لکه: راډيو، ټلويزيون، کتاب، ورځپاڼه او مجله، عکس، پوستر، شعرونه، قصې، حکايتونه، متلونه او روايات لنډه دا چې هر هغه شی چې په يو ډول نه يو ډول د افرادو په ښوونه او روزنه کې اغيزناک وي هم د ښوونيز او روزنيز نظام يوه برخه ګڼل کېږي. په يوه جمله کې دا چې ښوونه او روزنه له زانګو تر ګوره دوام لري. له همدې امله فرهنګي ميراث له يوه نسل نه بل نسل ته انتقا لېږي. هميشه يو نوی شی په هغه ورزياتېږي او شتمن کېږي. ښوونه او روزنه يوازې هغه بنسټ دی چې د ماهر او متخصص انساني ځواک روزنه يې پرغاړه ده او د اړوندو رولونو، وړتياوو او روزنې له لارې هغوي په ټولنه کې د ژوند کولو لپاره چمتو کوي، مختلفو قومونو او د مختلفو فرهنګونو لرونکو خلکو ته چې په يوه هېواد کې ژوند کوي د يو واحد ښوونيز او روزنيز نظام د مطالبو او مفاهيمو انتقال يووالی او پيوستون رامنځ ته کوي.

اقتصادي بنسټ

د یوې ټولنې مهمې او فوري اړتیاوې د هغې ټولنې د خلکو د اساسي فزیولوژیکو ضرورتونو پوره کول دي. ټول انسانان د دې لپاره چې ژوندي پاتې شي کالوري، صحي اوبو، استوګنځي او کالیو ته اړتیا لري. هیڅ داسې ټولنه په نړۍ کې نشته چې نه ختمېدونکي اساسي سر چینې لکه: خواړه، پوښاک، اوبه، د کور او ساختمانونو د جوړولو مواد او وسایل په اختیار کې ولري.

له کوم ځایه چې دا سرچینې محدودې او کمې دي، نو هره ټولنه باید د دې اساسي منابعو د تولید، ویش او مصرف لپاره له سمو او منظمو لارو او طریقو څخه کارواخلي. په دې ډول هره ټولنه باید یو اقتصادي نظام جوړ کړي. اقتصادي بنسټ د کالیو(توکو) د تولید، وېش او د لګښت رول سرته رسوي او دانسانانو اقتصادي، غذایي او مصرفي اړتیاوې پوره کوي.

سیاسي بنسټ

ټولنیزو ډلو د خپلې بقا او د هوسا ژوند کولو لپاره د ټولنیز نظم او سمون لپاره ځینې لارې او طریقې رامنځ ته کړې دي. یعنې ټولې ټولنې باید اصول او قواعد جوړکړي چې په اکثرو وختونو کې له دې قواعدو څخه د خلکو د اطاعت ضمانت وکړي. که چیرته د ټولنې دا ضرورت پوره نه شي، خلک به د یو بل په حقونو سترګې پټې کړي او په ټولنه کې به د کړکېچ او بې نظمۍ لامل وګرځي.

په یقین سره چې مختلفې ټولنې د نظم راوستلو لپاره له بېلا بېلو لارو چارو څخه کار اخلي. لنډه دا چې هره ټولنه داسې یو نظام لري چې خلک د ټولنیزو قوانینو اطاعت ته متوجه کوي. دا رول او دنده سیاسي بنسټ پر غاړه لري چې د ډېر اوږد تاریخ لرونکی بنسټ دی. دولت د

دې بنسټ ښکارندوی دی چې د خپل قدرت سلسله مراتب په ټولنه کې خپروي، د خلکو د چارو په سمون لاس پورې کوي او په ټولنه کې امنیت ساتي.

دیني بنسټ

مذهبي بنسټونه د مذهب په څرنګوالي پورې اړه لري او د انسانانو معنوي اړتیاوې پوره کوي.

د دین تعریف: د خدای (جَلَّ جَلاَلُه) د لارښوونو مجموعه ده چې د خپلواک انسان سره د فردي او ټولنیز ژوند په حدودو کې د ښې او سمې لارې په انتخاب کې مرسته کوي. له دې اصطلاح نه مقصد خدای (جَلَّ جَلاَلُه) ته د نژدېوالي سلوک غوره کول او په یوه ټاکل شوې لاره او قالب کې ژوند کول، د الله (جَلَّ جَلاَلُه)د حکمونو بشپړ اطاعت منل دي. په هر دین کې معمولاً دیني بنسټونه د روحانیونو او د دین د عالمانو تر رهبرۍ او مشرۍ لاندې وجود لري.

دیني علما او روحانیون هغه کسان دي چې له دیني علومو او مناسکو سره اشنایي لري او مؤمنان په مختلفو طریقو(یعنې د احکامو، عقایدو د زده کړې او په مذهبي مراسمو کې ګډون او داسې نورو) سره د خدای (جَلَّ جَلاَلُه) اوامرو ته رهنمایي کوي. یعنې سړی باید وکولای شي د خپل مذهب مراسم او فرایض څرنګه چې په شریعت کې راغلي دي سرته ورسوي او په ټولنه کې هغه نظم او سمون چې هیله یې کېږي عملي شي.

د لوست تکرار

• ....

• ....

• ....

• ....

• ....

پوښتنې

۱- کورنۍ کوم ډول ټولنيز بنسټ دی؟

۲- کورنۍ د خپلو غړو په وړاندې کوم مسئووليتونه لري؟ اووه مسئووليتونه يې په ګوته کړئ.

۳- اقتصادي بنسټ د ټولنې کومې اړتياوې پوره کوي؟ درې اړتياوې يې په ګوته کړئ.

٤- د فرهنګي ميراث انتقال له يو نسل خخه بل نسل ته د کوم بنسټ له لارې سرته رسيږي. ؟

٥- د ټولنيز نظم ساتنه او د ټولنيزو قوانينو اطاعت ته د خلکو پام اړول د کوم بنسټ پر غاړه دي؟

٦- د دين بنسټ د انسان کومې اړتياوې پوره کوي؟

کورنۍ دنده

د کورنۍ څو دندې چې په ټولنه کې يې لري، په خپلو کتابچو کې وليکئ او بيا يې د ټولګي پر وړاندې ولولئ.

ټولنیز بنسټ (۳)

خبرې پرې وکړئ

ټولنیز بېلابېل کړه وړه لکه، نېک او ښه کړه وړه، بد او نامناسب کړه وړه، لکه: غلا او داسې نور په یوه ټولنه کې لیدل کېږي.

۱- آیا داسې ځوک یا منبع شته چې موږ ښو کارونو ته وهڅوي او له بدو کارونو څخه مو منع کړي؟

۲- آیا پوهیږئ د پنځه ګونو بنسټونو دندې په ټولنه کې کومې دي؟

په تېر درس کې مو ولوستل چې په هره ټولنه کې پنځه ټولنیز اصلي بنسټونه وجود لري. دا پنځه اصلي بنسټونه دا دي: د کورنۍ بنسټ، د ښوونې او روزنې بنسټ، اقتصادي بنسټ، سیاسي بنسټ او مذهبي بنسټ. ټولنیز بنسټونه خپلو موخو ته د رسیدو لپاره باید معلوم کړه وړه ولري.

په دې لوست کې به تاسې د دې بنسټونو په اړه معلومات پیدا کړئ چې څه کړه وړه لري او کومې چارې سرته رسوي.

د ټولنیزو بنسټونو کړه وړه

هر ټولنیز بنسټ ټاکلي او مشخص کړه وړه لري چې په یوډول نه یو ډول د هغه په ټینګښت او

پایښت کې اغېزناک دي. همدارنګه داسې اساسي او ځانګړې دندې موجودې دي چې هر بنسټ په جلا ډول له هغه څخه برخمن دی. هغه پراخې دندې چې په ټولو بنسټونو کې لیدل کېږي په لاندې ډول دي:

- بنسټونه په مختلفو مو قعیتونو کې د نېکو او ښو ټولنیزو کړو وړو بنې دانسان په اختیار کې ور کوي. د ټولنیز کېدو له لارې انسانانو ته د ښو کړو وړو لارښوونه کوي او له بدو کړو وړو څخه د ډډې کولو طریقې ورښیي. د بېلګې په توګه: په ښوونځي کې موږ ته دا را زده کېږي چې د ښوونځي د قوانینو پیروي وکړو، د مشرانو درناوی وکړو، له ټولګیوالو سره مرسته وکړو، د تقلب او د نورو پر حقوقو له تېري نه ډډه وکړو، د دیني مقدساتو او ارمانونو درناوی وکړو.

- ټولنیز بنسټ د فرد لپاره مختلف رولونه ټاکي. سم او معقول کړه وړه او رولونه انسانانو ته مشخص کوي. یعنې یو سړی مخکې له دې چې ځانته یوه دنده چې د هغه هیله لري وټاکې، کولای شي ځانته د مناسبې دندې د انتخاب تصمیم و نیسي. بنسټونه د ټولنې وګړو ته دا ورزده کوي چې د کړو وړو خو را ښه طریقه او لاره هغه لاره ده چې باثباته او د قانون سره سمه وي، د بېلګې په توګه: خلک په مذهبي بسنټ کې دغږیتوب له لارې د ټولنې باثباته او منل شوي ارزښتونه او عقیدې زده کوي. شرافت او ریښتینولي زده کوي. شرافت، رښتینولي له بې وزلو سره مرسته او د ټولنیز و مقرراتومراعاتول دا ټول د بنسټیزو منل شویو کړو وړو نمونې ګڼل کېږي.

بنسټونه د ټولنیزو کړو وړو په سمون لاس پورې کوي او د هغه نظارت کوي. د بېلګې په توګه: د یو نېستمن سړي لپاره غلا د دې لپاره مناسب کار نه چې دا کار د نورو په حق ظلم او تېری شمېرل کېږي او بل دا چې کیدای شي هغه کار د ده د بندي کیدو سبب شي. د دې پرځای چې د ټولنې له غوښتنو نه سترګې پټې کړي، ښه به دا وي چې یوې خیریه ټانګې او یا د کار لپاره کوم ځای ته ورشي.

یاد شوي پنځه بنسټونه هر یو د یوې ځانګړې موخې لپاره منځ ته راغلی دي او ځانګړې کړه وړه او دندې سرته رسوي چې په لاندې ډول دي:

د کورني بنسټ ځانګړې دندې (کړه وړه)

- د لومړني ټولنیز بنسټ په توګه د کورنۍ تنظیم او جوړښت.
- د انسانانو د یونسل د ځای ډکول د بل نسل له خوا.
- د کوچنیانو، بې وسو او سپین ږیرو پالنه او لاسنیونې.

- د چاپېریال له خطرونو څخه د وګړو ساتنه.
- د فردي تجربو د تر لاسه کولو لپاره د فرصتونو او امکاناتو برابرول، په فرد کې د روحي او اخلاقي ځواک وده او د کوچني د شخصیت اساسي جوړښت. د کوچني د اړتیاو پوره کول لکه: خواړه، پوښاک، استوګنځی، د امنیت احساس، مینه او داسې نور.
- د ټولنې له افرادو سره د پیوستون د حس پیدا کول.
- د ټولنیز ژوند د نن او سبا په اړه هیله مندۍ ایجادول.
- د کوچنیانو ټولنیز کول.
- د وراثت له لارو د وګړو د مقام او منزلت تثبیتول.
- د اقتصادي تولید او مصرف د اساسي برخې د واحد په توګه، د کورنۍ دغړو لپاره د امنیت رامنځ ته کول.

د ښوونې او روزنې د بنسټ ځانګړې کړه وړه

- د دندو د منلو لپاره د افرادو چمتو کول.
- د فرهنګي میراث د انتقال د وسیلې په توګه عمل کول.
- له مختلفو نقشونو او دندو سره د ټولنې د افرادو آشنا کول.
- د ځینو ټولنیزو نقشونو او دندو لپاره چې هیله یې لري، د وګړو چمتو کول.
- د علمي څېړنو له لارې په ټولنه کې د بدلون او پر مختګ راوستل.
- له ټولنیزو ارزښتونو سره د وګړو د تطابق د قدرت وده او د ټولنیزو اړیکو اسانتیا.

د مذهبي بنسټ ځانګړې کړه وړه دا دي:

- د اخلاقي هویت په موندلو کې له اشخاصو سره مرسته.
- د شخص د طبیعي او ټولنیز چاپېریال د بیان لپاره د تفسیرونو راوړل.
- د وګړو ټولنیز ټینګښت او ګروپي پیوستون.
- خلکو ته دا هیله ورکول چې خدای (جَلَّ جَلاَلُه) د بندګانو ژوند په دې نړۍ کې په مړینه نه ختموي، بلکې مړینه د تلپاتې او عادلانه ژوند پیل دی.

د اقتصادي بنسټ ځانګړې کړه وړه

- د ټولنې د وګړو د اړتیا وړ توکو او خدمتونو تولید.

• د توکو او خدمتونو وېشل د اقتصادي صنايعو (کاراو تجهيزاتو) له وېشلو سره يوځای.

• د توکو او خدمتونو مصرفول.

د سياسي بنسټ ځانګړي کړه وړه

• د مقننه قوې له خوا د جوړ شوي قانون له لارې د قوانينو او مقرراتو بنسټيز کول.

• د تصويب شوي قانون پلي کول.

• د امنيت خوندي کول.

• په ټولنه کې د غړو ترمنځ د ستونزو او مخالفتو نو حل و فصل.

• د داسې خدمتونو لکه: روغتيا ته پاملرنه، هوساينه، ښوونه او داسې نور سرته رسول.

• د نورو ملکونو د تېري پر وړاندې د هېواد له اتباعو څخه حمايت او د خارجي ګواښونو پر وړاندې د ملت هوښيار ساتل.

د لوست تکرار

• ....

• ....

• ....

• ....

پوښتنې

۱- د کوچنيانو ټولنيز کول د کوم بنسټ دنده ده.

۲- د علمي څېړنو له لارې په ټولنه کې د بدلون او پرمختګ راوستل د کوم بنسټ په کړو وړو پورې اړه لري.

۳- په ټولنه کې د خلکو ترمنځ د ستونزو او مخالفتونو حل و فصل د کوم بنسټ په کړو وړو پورې اړه لري، ځواب يې په نښه کړئ.

الف: د کورنۍ بنسټ.

ب: د دين بنسټ.

ج: د سياست بنسټ.

د: د اقتصاد بنسټ.

کورنۍ دنده

تاسې په کومه موخه په ښوونځي کې شامل شوي ياست؟ څو دليلونه يې وليکئ.

د بنسټونو متقابلې اړیکې

خبرې پرې وکړئ

په تېرو لوستونو کې مو زده کړل چې په یوه ټولنه کې بنسټونه د خپلو دندو په سرته رسولو کې یو له بل سره تړلي دي او د هغو تر منځ نسبتاً پایدارې اړیکې شته. د هر یو بنسټ کار د بل بنسټ د کار تکمیلوونکی دی. اوس وواياست چې:

آیا بنسټونه کولای شي چې په خپلو کې له همغږۍ پرته یو له بل سره متقابلې اړیکې ولري او د خلکو ټولې اړتیاوې پوره کړي؟ په دې اړه بحث وکړئ.

په دې لوست کې تاسې د بنسټونو له متقابلو اړیکوسره آشنا کېږئ:

څرنګه چې ټول نهادونه یوه موخه لري چې هغه د خلکو د اړتیاوو پوره کول او پوره هوساینې ته د هغوی رسول دي، نو بنسټونه یو له بل سره تړلي دي. هېڅ بنسټ له بل بنسټ سره له اړیکو درلودلو څخه پرته نشي کولای خپل پایښت او شتون ته دوام ورکړي، ځکه هر یو په بل باندې هم اغیز کوي او هم اغیزمن کېږي. پنځه بنسټونه چې په تېر درس کې مو ولوستل یو له بل سره تړلي دي، د بېلګې په توګه:

واده او د کورنۍ ټینګښت د ټولنې په وده اغیز کوي او د ټولنې وده په ښوونې، روزنې او اقتصاد تاثیر لري. د دې لپاره چې د ټولنې کره وړه اغیزناک وي د هغه بنسټیز نهادونه باید اغیزناک کره وړه ولري. یو مناسب او ښه توازن باید د کورنۍ، اقتصاد، سیاست، مذهب او د ښوونې د نهادونو تر منځ موجود وي.

پوهېږو چې یو ماشین هغه مهال ښه کار کوي چې د هغه د پرزو او اجزا و تر منځ ښه همغږي موجوده وي. یوه ټولنه هم کولی شي چې خپلې لارې ته په آسانۍ سره دوام ورکړي او خپلې موخې لاس ته راوړي چې ټول نهادونه په همغږۍ او یو موټي توب سره عمل وکړي.

- ستاسي په فکر! کوم وخت ویلای شو چې په ټولنه کې نظم او همغږي موجوده ده؟ داسې فرض کړئ چې تاسې غواړئ د فوټبال د لوبې لیدلو ته لاړ شئ. د دې لپاره لومړی باید خپل ځان لوبغالي ته ورسوئ. که چیر ته:

- موټر چلونکی ترافیکي قوانین او مقررات مراعات کړي.

- د ترافیکو اداره په خپلو د ندو په ښه توگه عمل وکړي چې موټر چلوونکي په ښار کې په سمه توگه موټر وچلوي.

- ښاروالي خپل کار په ښه توگه سرته ورسوي ترڅو په سر کونوکې د موټر چلوونکیو لپاره ستونزه پیدا نه شي. نو تاسې کولی شئ په آرامه توگه لوبغالي ته ورسیږئ او همدا رنگه د ننوتلو ټکت واخلئ، پخپل ځای کښېنئ، مسابقه ووینئ او بیا په آرامۍ سره له لوبغالي څخه راووځئ او په موټر کې خپل کور ته لاړ شئ. لکه چې تاسې ولیدل د یوې مسابقې په کیدو کې مختلف بنسټونه شامل او یو له بل سره مرسته کوي. دا نهادونه د دندو د سرته رسولو په وخت کې باید له نورو نهادونو سره د همغږۍ تر څنگه نژدې پیوند او اړیکې ولري، ترڅو یوه مسابقه په ښه توگه اجراشي. له بلې خوا تر کومه ځایه چې نهادونه یو له بل سره نژدې پیوندونه او اړیکې لري یو د بل ودې او تایید ته لېوالتیا لري، ترڅو وکولی شي چې ټول په ټولنه کې اغیزناک واوسي. همدارنگه هر کله چې په یوه بنسټ کې بدلون راشي، نو له هغه سره جوخت په نورو بنسټونو کې هم تغییرات راځي. له دې کبله کله چې یو نهاد خپل ځیني کړه وړه له لاسه ورکوي او یا نوي کړه وړه لاس ته راوړي، نو لازمه ده چې په هغه بنسټ کې د ننه هم بدلونونه راشي، ترڅو هغه نهاد وکولی شي نوی کار سرته ورسوي.

فعالیت: ستاسې په آند که د یوې ټولنې ارمان د هغې ټولنې د اقتصاد رغونه وي، نو د اقتصاد بنسټ په یوازې ډول کولای شي چې نو موږې ټولنه هغې موخې ته ورسوي؟ په دې باره کې خبرې سره وکړئ.

هغه اړتیاوې چې نهادونه د هغو په بنسټ جوړشوي دي. د ټول ټولنیز نظام د اړتیاوو یوه برخه ده. هغه اړتیاوې چې یو ښوونځی د هغه پر اساس منځ ته راغلی، د هغو اړتیاوو یوه برخه ده چې د هغه پر اساس د ښوونې او روزنې بنسټ منځ ته راغلی. له دې کبله دا ټول نهادونه په عمومي توگه د ټولنیزو اړتیاوو د پوره کولو خوا ته ځي. نو ویلي شو چې هر کله د ټولنې ارمان د اقتصاد وده لوړې کچې ته رسول وي، نو باید ټول ټولنیز بنسټونه له دې موخې سره متناسب عمل وکړي یعنې:

- د ښوونې په بنسټ کې د وړتیاوو د لوړولو لپاره باید انضباط، ډېرکار، کمه طمعه او قانع

کيدل او د سلسله مراتب مراعاتول په دوامداره توګه زده کوونکو ته ورزده شي.

- د ډله ييزو رسنيو وسايل بايد ګټور او ښوونيز پروګرامونه خپاره کړي.
- اداري نهاد داسې جوړ شي چې يوازې بايد ښه کارکوونکي، د کار اهل او منظم افراد په هغې کې کار وکړای شي.
- په سياسي بنسټ کې سياستوال بايد ساده او بې الايشه ژوند ولري او هغه پروګرامونه چې د هېواد د ادارې لپاره جوړېږي بايد ټول په دې موخه تنظيم شوي وي.
- اقتصادي بنسټ په توليد او توزيع کې له همدې موخې سره متناسب عمل وکړي. په دې شرايطو کې دا ټولنه کولی شي خپله موخه يعنې د اقتصادي ودې لوړې کچې ته رسېدل عملي کړي.

د لوست تکرار

- ....
- ....
- ....
- ....
- ....

پوښتنې

۱- آيا ټولنيز بنسټ په يوازې توګه او له نورو بنسټونو سره له اړيکو پرته کولی شي د ټولنې ډول ډول اړتياوې پوره کړي؟

۲- آيا اقتصادي ناورين په يوه هېواد کې يوازې پر اقتصادي بنسټ اغېز کوي، که په نورو ټولنيزو بنسټونو هم اغېز لري؟

۳- که چېرته په يوه بنسټ کې بدلون راشي. آيا په نورو بنسټونو کې هم تغيير راځي؟ د يو مثال په وسيله يې واضح کړئ.

٤- د اقتصاد او د ښوونيزو بنسټونو تر منځه د اړيکو يو څو بېلګې وليکئ.

کورنۍ دنده

که چېرته وغواړئ د الوتکې په ذريعه د هېواد کوم ولايت ته سفر وکړئ بايد د دې سفر سرته رسولو لپاره له کومو بنسټونو سره اړيکې ونيسئ؟ د دې سوال ځواب په کتابچو کې وليکئ او بيا يې د زده کوونکو پر وړاندې ولولئ.

د درېیم څپرکي لنډیز

• هره ټولنه د دې لپاره چې خپل شتون ته دوام ورکړي، باید بېلابېلې اړتیاوې یې پوره شي. د تاریخ په اوږدو کې د دې اړتیاوو د پوره کولو لپاره اړیکې رامنځ ته شوي او دوام یې پیداکړی چې هغې ته ټولنیز بنسټ وایي.

• کولی شو چې ټولنیز بنسټونه په دوه لومړنیو او دویمو ډلو باندې وویشو، لومړي بنسټونه عمومي او جهاني دي او تقریباً ویلي شو چې په ټولو ټولنو کې پیدا کېږي او د ډېر دوام او ثبات لرونکي دي. پنځه ټولنیز لومړني بنسټونه دا دي: د کورنۍ، د ښوونې او روزنې، د دین، اقتصاد او سیاست بنسټونه.

•دویم درجه بنسټونه چې د ټولنې د دوام لپاره ورته اړتیا لیدل کېږي او کله چې دا اړتیاوې لیرې شي، ورو ورو او یا دفعتاً له منځه ځي. د دویمو بنسټونو له جملې کولی شو بانکدارۍ، علم، ټکنالوژۍ او درملنې ته اشاره وکړو.

• کورنۍ د خلکو یوه ډله ده چې د خپلوۍ د اړیکو سره مستقیماً تړاو لري او د هغې لویان د کوچنیانو د پالنې مسؤولیت لري.

• ښوونه او روزنه یوازې هغه بنسټ دی چې د متخصص او ماهر ځواک وده پر غاړه لري او د زده کړې له لارې هغوی په ټولنه کې ژوند کولو ته چمتو کوي.

• هره ټولنه یو اقتصادي نظام لري او اقتصادي بنسټ دی چې د تولید، توزیع او د توکو د مصرف جریان تنظیموي او د انسانانو اقتصادي، غذایي او مصرفي اړتیاوې پوره کوي.

• هره ټولنه د یو نظام لرونکې ده چې خلک د قوانینو اطاعت ته متوجه کوي او دا رول سیاسي بنسټ سرته رسوي چې په ټولنه کې د نظم او سمون دنده پر غاړ لري چې دولت د دې بنسټ کارندوی دی.

• پوهیږو چې یو ماشین هغه وخت ښه کارکوي چې د پرزو او اجزاو ترمنځ یې همغږي او نظم موجود وي. یوه ټولنه هم هغه وخت کولی شي په آرامۍ سره خپلې لارې ته دوام ورکړي او خپلو موخو ته ورسیږي چې ټول بنسټونه په همغږۍ او یو موټیتوب عمل وکړي.

څلورم څپرکی

پراختیا(توسعه)

په دې څپرکي کې لاندې لوستونه لولئ:

۱ - پراختيا څه ته وايي؟

۲ - فرهنګي پراختيا.

۳ - ټولنيزه - سياسي پراختيا.

۴ - اقتصادي پر اختيا.

۵ - د پر اختيا او د ببر ته پاتېوالي عوامل.

۶ - پر اختيا او د ژوند چاپېريال.

د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په پای کې:

- د پر اختیا په مفهوم پوه شي.
- د پر اختیا برخې و پیژني.
- د فرهنګي پر اختیا په اړه معلومات لاس ته راوړي.
- د ټولنیزې او سیاسي پر اختیا په اړه معلومات پیدا کړي.
- د اقتصادي پر اختیا د برخو په اړه معلومات پیدا کړي.
- د پراختیا او د وروسته پاتېوالي د علت او عواملو د څېړنې او تحلیل وړتیا پیداکړي.

پراختیاڅه ته وايي؟

په تېر درس کې مو ولوستل چې د تاریخ په اوږدو کې د انسانانو د اړتیاوو پوره کولو لپاره اړیکې پیدا شوي او ادامه یې پیدا کړې ده چې هغو ته ټولنیز بنسټ وايي. په دې څپرکي کې به تاسې ولولئ چې دې موخې ته رسېدل د هر ملت او ټولنې هیله او ارمان دی.

خبرې پرې وکړئ

تاسې د(پراختیا، ودې او صنعتي کېدل) اصطلاحات په ژوندکې ډېر اورېدلي دي او له هغو سره آشنا یاست، اوس وواياست چې:

- پراختیا څه ته وايي؟ پر اختیا ته رسېدل کوم وضعیت او ځانګړو شرایطو ته ویل کېږي؟

پراختیا د ډېرو هېوادو لپاره یوه ارماني موخه ده. ټول وروسته پاتې هېوادونه هیله لري چې خپل مادي، انساني، معنوي توان او ظرفیتونه لوړ کړي او د انساني، اقتصادي، سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اداري ظرفیتونو او وړتیاوو له پلوه یو ځواکمن دولت واوسي. د سالمو، متخصصو، باتدبیره او فعالو انسانانو درلودل او د پراخو بنسټیزو صنایعو، ارتباطي لارو، پرمختللې پست، بندرونو، د حمل او نقل مجهز وسایلو، صحي خدمتونو او د صنعتي نړۍ په کچه نوي ښوونې او روزنې او داسې نورو درلودل د مخ په ودې هېوادونو مطلوبه موخه او ارمان دی.

آیا پوهېږئ پراختیا، وده، صنعتي کېدل او بیارغونه څه شی دي؟ دوه اصطلاح ګاني وده او پراختیا زیاتره وخت د یوې معنا لپاره کاریږي چې دا سمه نه ده. وده یو اړخیزه معنا ورکوي او هغه د ټولنې د ثروت د ډېرښت کمیت راښیي او معمولاً په ځینو نښو نښانو، لکه: د سړي سر عاید باندې سنجول کېږي، خو پراختیا چې وروسته به هم ورته اشاره وشي د ټولنې د شتمنۍ د اندازې له ډېرښت سره سره، د ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي نظام کیفي تغییر هم له ځانه سره لري.

صنعتي کېدل د دوامدارې او مخ په زیاتیدونکې ګټې ورکولو په معنا دي چې د کار له قدرت، ځواک او د تخنیکي نوښتونو او منظمو کاري سازمانونو له ګټې اخیستلو نه لاس ته راځي. په دې توګه صنعتي کیدل د اقتصادي پراختیا یوه برخه ده.

د پراختیا اصلي معنا

پراختیا په لغت کې د تدریجي پرمختګ، ځواکمنۍ او حتی لویوالي خوا ته د ودې کولو په معنا ده. همدارنګه پراختیا د پراخوالي په معنا هم ده. پراختیا په لغت کې له پوښ نه راوتل دي او د بیارغونې له نظره پوښ (لفاف) هغه تړلې فرهنګي ټولنه او په هغې پورې اړوند ارزښتونه دي چې ټولنه باید پرمختګ ته د رسېدو په موخه له دې تړلې مرحلې څخه ووځي.

له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د پراختیا ادبیات په نړۍ کې مطرح شول او وده یې وکړه. **عالمانو او ټولنپوهانو پراختیا د هوساینې د موخو په لور د پرمختګ، له وروسته پاتې کیدو نه د لریوالې د فقر او بېکارۍ له منګلو نه خلاصون، د نابرابریو د کچې ټیټول، صنعتي کیدل، اړیکې او د داسې ټولنیز نظام جوړیدل بولي چې د عدالت او په روانو سیاسي چارو کې د خلکو پرګډون ولاړ وي.**

همدارنګه په دې ځانګه کې د نظر خاوندانو د پراختیا په اړه په خپلو کتابونو او مقالو کې ځینې مطلبونه بیان کړي دي او پراختیا یې د ټولنې تېریدل له وروسته پاتې حالت څخه د پرمختګ حالت ته او د ټولنې حرکت له پخواني وضعیت نه د ښه او مناسب وضعیت خواته بللی دی چې دا حرکت ځانته اصول او معیارونه غواړي. لومړنی شی چې د سم حرکت موخې ته د رسېدو لپاره لازم دی، هغه پېژندنه، پلان درلودل او دا پلان او موخې باید په یو سم قالب کې منظم شوې وي. لنډه دا چې د سمې او مطلوبې ټولنې لپاره دا لاندینی نښې او معیارونه لازم دي:

۱- د ټولنې مشر باید فاسد او ظالم نه وي، ځکه که په ټولنه کې ظلم موجود وي بیا به حرکت منځ ته رانه شي.

۲- انسانان باید پر نفس باور ولري او تقلیدي فکر ونه لري.

۳- د انسان ښوونې او روزنې ته پاملرنه وشي.(د انسان روزنه)

سربېره پر دې چې پراختیا په خپل جوړښت کې د تولید او عاید د کچې لوړوالی لري، همدارنګه د ټولنیزو، اداري بنسټونو او د خلکو د عمومي افکارو او نظریاتو د جوړښت په اساسي بدلونونو

کې هم برخه لري. پراختیا په ځینو وختونو کې د خلکو رسوم، عادات، عقاید او دودونه هم له ځانه سره لري.

فکر وکړئ او ځواب ورکړئ

پراختیا ته رسیدل کومو شرایطو ته ویل کیږي؟ او د کومو اړخونو درلودونکې ده؟

د دې سوال ځواب به تاسې په دې لوست کې ومومئ.

د پراختیا ځانګړتیاوې

پراختیا په ساده ډول په ټولو ټولنو کې هغه وضعیت ته وایي چې لږ تر لږه درې شرطه یا موخې ولري.

لومړۍ موخه: هغو موادو او خدمتونو ته لاسرسی چې د انسانانو د ژوند کولو لپاره ضروري دي لکه: خواړه، پوښاک، استوګنځی، په دې برخه کې نه یوازې د دې موادو او توکو د کمیت او اندازې زیاتوالی په نظر کې دی، بلکې په عادلانه توګه د ټولنې فرد فرد ته باید توزیع او وویشل شي.

دویمه موخه: د ژوند د سطحې او معیارونو لوړېدل او له مادي او معنوي نعمتونو څخه د انسانانو ګټه پورته کول دي. لوړ عایدات، اغېزناکه درملنه، باکیفیته ښوونه، پوره امنیت او فرهنګي او انساني ارزښتونو ته پاملرنه چې د ژوند په پرمختګ کې مرسته کوي، په ملي او فردي کچه ډېر درناوی او عزت نفس منځ ته راوړي.

دریيمه موخه: په بشپړه توګه کیفي ماهیت لري، چې په ژوند کې د افرادو او ملتونو د ټاکنو او انتخابولو د لمنې پراخول، د افرادو د مدني حقونو لوړول، د فکر آزادي، د قانون په وړاندې برابری، د تبعیضونو له منځه وړل او د هر ډول قید، بند او مریتوب نه خلاصون او داسې نور دي.

د پراختیا ابعاد (اړخونه)

پراختیا یو پېچلی، مرکب او څو اړخیزه بهیر دی. دا بهیر هغه وخت تحقق پیدا کوي او عملي کیږي چې په ټولنیز جوړښت، د خلکو د عامه ذهنیت او ملي نهادونو کې اړونده تحقیقات سرته ورسیږی او د هغوی له څنګه اقتصادي ودې ته چټکتیا ورکړل شي، نا برابري کمه شي او د مطلق فقر جرړې وایستل شي.

دا بهیر نه یوازې د تولید زیاتوالي او پراختیا ته پاملرنه کوي، بلکې د تولید ښه والی او کیفیت هم په

نظر کې لري. د يوې ټولنيزې پديدې په توګه داسې فکر کيده چې پراختيا يو اقتصادي جريان دی او د اقتصادي مطالعاتو په ساحه کې ځای لري. خو د ټولنيزې سياسي پراختيا په اړه ډېرو مطالعاتو وښودله چې اقتصادي وده يوازې د پراختيا يو اړخ دی او د دې پديدې نور اړخونه ټولنيز، سياسي، فرهنګي مخصوصاً د انساني ځواک عوامل تشکيلوي. پراختيا هغه وخت هر اړخيزه او دوامداره ده چې وکولی شي د ژوند ټولې برخې تر پوښښ لاندې راولي.

پراختيا د بدلون او تغيير بهير دی چې نه يوازې اقتصادي برخې، بلکې ټولنيز نظام، سياسي سازمان او فرهنګي ساحې له ځانه سره لري چې انساني کړو وړو ته په ټولنه کې وده ورکوي.

دوامداره او هر اړخيزه پراختيا اقتصادي، ټولنيزې، سياسي، فرهنګي او ټکنالوژيکې خواوې لري چې په راتلونکو لوستونو کې د پراختيا په دې اړخونو پوره رڼا اچول شوې ده.

د لوست تکرار

- ....
- ....
- ....
- ....
- ....

پوښتنې

١- د پراختيا موخې کومې دي؟ په لنډ ډول يې بيان کړئ.

٢- ايا پراختيا د اقتصادي ودې جريان دی او که اقتصادي وده يوازې د پراختيا يو اړخ دی؟

٣- يوې ښې ټولنې ته د تېريدو علامې او نښې کومې دي؟

٤- پراختيا تعريف کړئ.

٥- هغه هېوادونه چې د پراختيا په حالت کې دي کومې موخې بايد مخ ته بوځي چې پراختيا ته د رسيدلو هېوادونو سطحې ته ورسيږي؟

٦- سرې سرعايد او ملي ناخالص عايد څه شی دی؟

کورنۍ دنده

په هغه سيمه کې چې ژوند کوئ د ټولنيزې، اقتصادي، سياسي او فرهنګي پراختيا څو بيلګې وليکئ.

فرهنګي پراختیا

په تېر لوست کې مو ولوستل چې دوامداره با ثباته او هر اړخیزه پراختیا ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي اړخونه لري. په دې لوست کې به له هغو اړخونو څخه فرهنګي پراختیا ولولئ.

فکر وکړئ او ځواب ورکړئ

لاندیني پوښتنې په ځیر سره ولولئ او خبرې پرې وکړئ.

۱- ستاسې په فکر! د فرهنګي پراختیا معنا څه ده؟ او ولې فرهنګي پراختیا د اصلي او دوامدارې پراختیا بنسټ جوړوي؟

۲- فرهنګي پراختیا د یوه هېواد په ملي پراختیا کې څه رول لوبولی شي؟

اوس ډېر خلک په دې نظر دي چې د هر ډول پراختیا اساس فرهنګي پراختیا ده او له هغه ځایه چې د دولتونو اصلي موخه هر اړخیزې پراختیا ته رسېدل دي. د دې پراختیا بنسټ انسان (فرهنګي موجود) دی، له دې کبله د دوامدارې او حقیقي پراختیا زیربنا به هم فرهنګي پراختیا وي. فرهنګ د ټولنې بنسټ جوړوي او هره ټولنه څومره چې نوې هم وي د هغې دوام او پایښت په فرهنګي اصولو پورې تړاو لري چې د هغې ټولنې د افرادو هویت جوړوي. له دې امله په هره ټولنه کې هویت ورکوونکی رکن د هغې فرهنګي مخینه او فرهنګي زیرمې، آثار او

شتمنځ دي. دې مطلب ته په پاملرنه او په همدې ټکي باندې په ټینګار سره د یو هېواد مشران او مسؤولان باید فرهنګ د اساسي ارکانو په جمله کې وشمېرې او هغه ته دې د موخو، اوږد مهاله او پراخو سیاستونو په جوړولو او پلي کولو کې ځانګړی مقام ورکړي. د هرې ټولنې فرهنګ، د ټکنالوژۍ د پرمختګ کچه، تولید، ښوونه، علم او خبر تیا (آګاهي) د ټولنیزې ودې د ځانګړې دورې ادبیات راښیي. پراختیا یوه حیاتي او ډېره مهمه اړتیا ده په دې شرط چې د ښوونې او روزنې، ګډون (مشارکت) او د انسان د اساسي اړتیاوو د پوره کولو او په ځانګړې توګه د فرهنګ ودې ته لاره هواره کړي. دلته دا پوښتنه پیدا کېږي چې:

څنګه کولی شو فرهنګي پراختیا پلې کړو؟

فرهنګي پراختیا له هغو مفاهیمو څخه ده چې د پراختیا د ټولو برخو لکه:د اقتصادي ټولنیزې او د سیاسي پراختیا په پر تله له زیاتو ارزښتونو څخه برخمنه وي چې د ټولنې د افرادو له غیر مادي اړتیاوو سره زیات سروکار لري.

د هرې ټولنې وروستۍ موخه ودې او پراختیا ته رسېدل دي. که ملي پراختیا ته رسېدل په هېواد کې پراختیا د لوړ ارمان په توګه په نظر کې ونیسو، له دې کبله سیاسي، ټولنیزه، اقتصادي او فرهنګي پراختیا د پراختیا بنسټیزې او اصلي ستنې بلل کیږي. په دې ټولو کې د فرهنګي پراختیا رول حساس او څرګند بریښي. ځکه هېڅ ډول ټولنیز او سیاسي بدلون له مناسبو فرهنګي شرایطو او بنسټونو پرته ممکن نه دی. پراختیا د ملي او سیمه ییزو فرهنګي محصولاتو او لاسته راوړنو ساتنې ته اړتیا لري. ځکه چې فرهنګي لاس ته راوړنې د خپلواکې پراختیا لپاره ډاډمنې ضمانت کوونکې دي. ځکه چې فرهنګي هویت ځواکمنوي او د فرهنګي میراث په بنسټ د خلکو د نوښت او خبرتیا ځواک لوړوي، له دې امله هغه ځانګړتیاوې چې پورتنی تعریف یې فرهنګ، ټولنې او یو ټولنیزې ډلې ته ورکوي، نه شو کولای چې فرهنګ د پراختیا یو فرعي یا ښکلا ورکوونکې اړخ وبولو، بلکې هغه د ټولنې اصلي قدرت او ځواک ګڼل کیږي.

ستاسې په فکر! خلک د ټولنې په وروسته پاتېوالي، پرمختګ او پراختیا کې څه رول لري؟

غیر فعاله او وروسته پاتې ټولنه د وروسته پاتې او غیر فعالو وګړو د شتون نښې نښانې دي او یوه خوځنده، پرمختللې او فعاله ټولنه د هغې ټولنې د وګړو د خوځښت، هوښیارۍ او تکړه توب نښې دي دا سمه ده چې وایي: د یوې ټولنې زوال د هغې ټولنې د وګړو له زوال څخه پیدا کیږي، لکه څرنګه چې د ټولنې د حرکت او خوځښت سیاست هم د ټولنې د وګړو د هڅو، خوځښت بلل کیږي.

انسانان د تاریخ په اوږدو کې نن ورځ له هر وخت نه لوړې او پرمختللې ټکنالوژۍ ته لاسرسی لري. دا د پاملرنې وړ ده چې د دې ټکنالوژۍ نه د ګټې اخیستلو په لړ کې د ولسي فرهنګ د ارزښتونو تبادله او درک په نظرکې ونیول شي. د دې ارزښتونو له پامه غورځول او نه پېژندل د ټولنې بې هویتي څرګندوي او ټولنه د زوال خواته بیايي. له همدې کبله د ټولو هېوادونو فرهنګي، تاریخي او طبیعي میراثونه د نړۍ د وګړو د فرهنګي ارزښتونو د سرچینو او معنوي لاسته راوړنو په توګه ګڼل کیږي او د هغو ساتنه د هر متمدن انسان دنده او مسلم حق دی. افغانستان د داسې یو هېواد په توګه چې پنځه زره کلنه فرهنګي روښانه او ځلانده مخینه لري، د فرهنګي پراختیا لپاره د لویو ظرفیتونو لرونکی دی. خو د درې لسیزو جګړو او ګډوډیو په جریان کې دې هېواد لازم فرصتونه له لاسه ورکړل. د افغانستان اسلامي دولت، خلک، ځوانان او د دې خاورې هر وګړی دنده لري چې د خپل فرهنګ ملي او اسلامي ارزښتونه وساتي، هغه لاشتمن کړي او خپل با ارزښته فرهنګ د پردیو له تېريو څخه وساتي.هېره دې نه وي چې د فرهنګي پراختیا په هکله د نړۍ د مختلفو هېوادونو د تجربو، مخصوصاً د هغو تجربو پر وړاندې چې بریالۍ دي او په هغوی کې درسونه او پندونه موجود دي، بې تفاوته پاتې نشو. دا ټکي باید هېر نه کړو چې د هیڅ ټولنې نسخه نه شو کولای په بل هېواد باندې عملي کړو.دا په دې معنا چې کېدای شي داسې تجربې چې د یوه هېواد په ګټه وي د بل هېواد لپاره به ښې پایلې ونه لري.

د لوست تکرار

- ....
- ....
- ....
- ....
- ....

پوښتنې

١- فرهنګي پراختيا تعريف کړئ

٢- ولې پراختيا د فرهنګي محصولاتو دسيمه ييزو لاسته راوړنو ساتنې ته ضرورت لري؟

٣- ټولنيزې اړيکې په فرهنګي پراختيا کې څه رول لري؟

٤- آيا ديو هېواد فرهنګي پراختيا په اړه کولی شو، د مختلفو هېوادونو له تجربو څخه ګټه واخلو؟

کورنۍ دنده

د هېواد د فرهنګي پراختيا او د ښوونځي د زده کوونکو د رول په اړه خو کرښې وليکئ او بيا يې د ټولګي پر وړاندې ولولئ.

اجتماعي- سياسي پراختيا

خبرې پرې وکړئ

ټولنيزه پراختيا څه شی ده؟

څرنګه چې پوهيږئ پراختيا يوازې هغه وخت د دوام او پرمختګ وړ ده چې له دې برخې يا جريان نه ګټه اخيستونکي ورو ورو او په تدريج سره د دې جريان خښتنان شي. په دې معنا چې پلانونه او پروګرامونه نه شو کولای يوازې د اقتصاد لپاره تر بحث لاندې ونيسو، بلکې بايد يو هر اړخيز پلان په نظر کې ونيسو چې اجتماعي، روغتيايي او عمومي آسانتياوې لکه: د فرهنګي ميراثونو ساتنه،پلان جوړونه او ښارې بيا رغونه، د کليو او بانډو پراختيا، د اوبو او انرژۍ اداره کول، د چاپيريال ساتنه او حتی د سياست جوړولو او قانون جوړولو پراختيا، هغه مهم توکي دي چې بايد په پام کې ونيول شي. هغه شرايط او ټولنيز لاملونه چې د ودې او پراختيا په جريان کې د پاملرنې وړ دي په لاندې ډول دي.

۱- د مطلقې نيستۍ د له منځه وړلو پلان چې په خواشينۍ سره د نفوسو ډېره برخه ورسره لاس او ګريوان ده.

۲- د اساسي اړتياوو لکه: خواړه، استوګنځی، د سون مواد، کالي او ځينې ټولنيزې اړتياوې لکه: د انساني حقونو، زده کړې او دندې (اشتغال) لپاره د لارې هوارول او په ټولنيز ژوند کې د سياسي او ټولنيزو موقفونو او نقشونو لاس ته راوړل، د ټولنيزې هوساينې او عدالت راوستل د دې ستراتيژۍ په مرکز کې ځای لري. په دې معنا چې مادي سرچينې بايد د ټولنې د ټولو افرادو په منځ کې په مساوي توګه وويشل شي.

دا ستراتيژي په کليو کې د لاندينيو چارو د سرته رسولو سپارښتنه کوي:

۱- بې ځمکو او نیستمنو بزگرانو ته د ځمکو ورکول.

۲- په کمه بیه او یا په وړیا توگه د کرنیزو اعتبارونو او امتیازونو ورکول.

۳- د ځمکو د اصلاحاتو سرته رسول.

فکر وکړئ او ځواب ورکړئ

- ستاسې په آند کوم لاملونه له کلیو څخه ښارته د خلکو د مهاجرت سبب کېږي؟

- مهاجرتونه په ښار کې کومې ستونزې جوړولای شي؟

لاندیني لاملونه ښایي ښار ته د خلکو د مهاجرت سبب شي:

- بیکاري.
- ناسم پراختیایي سیاست او د پلان جوړونې کمزوري، ښایي په یو هېواد کې ښار ته د خلکو د مهاجرت سبب شي.
- د درملنې، زده کړې او د لوړ مقام نه درلودل.
- د کرنیزو ځمکو لږوالی، د ټولنیز امنیت نشتوالی، قومي او قبیلوي اختلافات.
- د دولت د پلان جوړونې نشتوالی.
- په کلیوالي سیمو کې د پانگوالې نشتوالی، د ناعادلانه وېش سیاست، د فرصتونو او امکاناتو نه درلودل هغه عوامل دي چې له کلیو څخه ښار ته د خلکو د مهاجرت سبب کېږي.

د ښار خوا ته د کلیو د خلکو مهاجرت پر فرهنگي، اقتصادي او اجتماعي نامطلوبو اغیزو سربیره په مهاجرینو رواني او روحي فشارونه هم راولي. له هېواد نه جلا والی او نوي چاپېریال ته له ورتگ سره، مهاجرین له یو ډول پردیتوب او جلاوالي سره مخامخ کېږي چې دا عامل کیدای شي د ټولنیزو انحرافاتو او ناخوالو سبب شي. په ځانگړې توگه د وزگارتیا او نیستی موجودیت دی کار ته لمن وهي.

دلته پوښتنه پیدا کېږي چې څنگه کیدای شي د دې مهاجرتونو مخنیوی وشي؟ له هغه ځایه چې د انسان ټول فعالیتونه د هغه داړ تیاوو د پوره کولو لپاره سر ته رسېږي، نو د مهاجرینو مهاجرت ښارونو ته هم یو ښه او باکیفیته ژوند ته د رسېدو په هیله سرته رسېږي. دا ډېره ضروري ده چې دولتونه او حکومتونه دې د کلیوالو سیمو لپاره په خپلو سیاستونو او پلان جوړولو کې له اقلیمي، ټولنیزو، فرهنگي او سیاسي عناصرو سره پېژندگلوي پیدا کړي. داسې څېړنه او پېژندنه به د خورا ښې پلان جوړونې لامل شي چې د سیمې له اړتیاوو سره تړاو ولري او د لاس ته راوړل شوو پانگو د ضایع کیدو مخنیوی به وکړي.

همدارنګه که تعلیم، کار او درملنه په کلیو کې دود شي او د کلیو د خلکو د ژوند د کیفي کچې لوړوالی د ښار د اوسېدونکو په څېر په نظر کې ونیول شي، په هغه صورت کې مهاجرت له منځه ځي. له بلې خوا که چېرته د مالدارۍ او کرنیزو تولیداتو ساتنه وشي او محلي صنایعو ته د دولت په مرسته مناسب بازارونه پیدا شي نو کیدای شي په کلیوالو اغېز وکړي او په کلیو کې ژوند تېرولو ته زړونه ښه کړي.

سیاسي پراختیا

سیاسي پراختیا له هغو مفاهیمو څخه ده چې له دویمې عمومي جګړې وروسته د پراختیا په ادبیاتو کې مطرح شوه. د دې اصطلاح په اړه مختلف نظرونه موجود دي. د ځینو افرادو له نظره سیاسي پراختیا له داسې سیاسي شرایطو نه عبارت ده چې د اقتصادي او صنعتي پراختیا لپاره لازمي او اساسي شرطونه ګڼل کېږي. له دې کبله که چېرته سیاسي او حکومتي شرایط چې د اقتصادي فعالیتونو د عملي کولو لپاره لازم دي منځ ته راشي او سیاسي نظام د ټولنې ودې او پرمختګ ته سرعت ورکړي، د سیاسي پراختیا د تحقق په لاره کې به مخ پر وړاندې لاړ شي چې دا حالت د بنسټ د ودې مثبت اړخ ښيي، خو که سیاسي نظام ونه شي کولی دا موخه لاس ته راوړي، نو په یوه ژوره کنده کې به ولوېږي.

د سیاسي پراختیا مثبت اړخونه (شاخصونه) په لاندې ډول دي

۱- دولتي حاکمیت یا د هېواد یو موټی توب.

۲- د ملت تشکل یا ملي یو موټی توب.

۳- د رایې د حق زیاتوالی او آزاد انتخابات چې په هغه کې ډېر شمېر رایه ورکوونکي ګډون وکړي.

٤- سیاسي کیدل یا په سیاسي جریانونو کې د خلکو فعال ګډون.

٥- په تصمیم نیولو کې د خلکو ګډون.

٦- د خپلواکو ګروپو نو زیاتېدل.

۷- د مطبوعاتو آزادي او د ډله ییزو رسنیو وده.

۸- د زده کړې د امکاناتو پراخول.

۹- د قانون جوړوونکو د رول اغېزمنتیا او د ملت د نماینده ګانو رغوونکي خدمتونه.

۱۰- د خلکو د شکایتونو پلټنې او حل لپاره د څوا کمنو سازمانونو رول.

په پرا ختیا کې د ښځو رول

د یوه ملت د پراختیا او ملي پرمختګ پروسه د ښځو له حضور او فعال ګډون پرته له مشکل سره مخامخ کېږي ځرنګه چې ویل کیږي ښځې د بشري ټولنې نیمه برخه ده او د دې وس لري چې د پراختیا په رامنځ ته کېدو کې ښه رول ولوبوي. په دې شرط چې هغوی د اسلامي عقایدو، قواعدو او ارزښتونو په چوکاټ کې د تاریخ د یو خوځنده ځواك په توګه د سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي ژوند صحنې ته ورداخلې شي. ښځې د کورنۍ، ټولنې او نړۍ د پرمختګ کیلي ده. د پرمختګ د عمومي انکشاف ضمانت کوي. ځرنګه چې لیدل کېږي د افغانستان زیاتره ښځې نالوستې دي او له انکشافي جریانونو څخه لېرې دي. ځرګنده ده چې د دې نالوستو ډېرکیو په ځنډ او ورو حرکت د ملي کاروان سرعت د پراختیا او ملي پرمختګ په لوري کموي. له دې کبله له هر څه د مخه باید د ښځو پرمختګ ته ډېره پاملرنه وشي چې د نسلونو بنسټ ایښودونکي او د پرمختګ بنسټ جوړوونکي دي.

د لوست تکرار

- ....
- ....
- ....
- ....

پوښتنې

۱-کومو ټولنیزو شرایطو او عواملو ته باید د ودې او پراختیا په بهیر کې پاملرنه وشي؟

۲- د دې لپاره چې مادي سرچینې په کلیوالو سیمو کې عادلانه ووېشل شي، باید کوم کارونه سرته ورسیږي؟

۳- هغه عوامل چې ښار ته د کلیوالو د مهاجرت لامل کېږي کوم دي؟

٤- د پراختیا د مثبتو نښو او اړخونو نومونه واخلئ؟

٥- د یو هېواد په ملي پرمختګ او پراختیا کې د ښځو رول څه شی دی؟

کورنۍ دنده

د سیاسي پراختیا هغه خصوصیات او اړخونه مو چې په لوست کې ولوستل په کتابچوکې ولیکئ او هغه اړخونه چې زموږ په هېواد کې عملي شوي دي، د (هو) او هغه چې نه دي عملي شوي د (نه) په کلمو نښه کړئ او د ځواب دلیل مو ووایاست.

اقتصادي پراختیا

خبرې پرې وکړئ

په تېر درس کې مو ولوستل چې پراختیا هغه وخت هر اړخیزه او دوامداره وي چې ټولنیزه، اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او د ټکنالوژۍ پراخې خواوې او برخې ولري. بنایي د تېرو لوستونو له مطالبو او محتواو نه مو د ټولنیزې، فرهنګي او سیاسي پراختیا په اړه څه نا څه زده کړې وي.

په دې لوست کې به تاسې د پراختیا اقتصادي برخه ولولئ.

لاندې پوښتنو ته په ځیر سره ځواب ورکړئ.

۱- که چېرته یوه کورنۍ د هغه عاید په پرتله چې لاس ته یې راوړي زیات لګښت وکړي، څه پایله به ولري؟

۲- ستاسې په سیمه کې د وزګارتیا علت څه شی دی؟

له ډېرو پخوا زمانو را پدې خوا د بشر د پوهې د کچې د لوړوالي په پایله کې، د انسان د ژوند کیفیت او وضیعت په دوامداره توګه د ښه والي او لوړېدو په حالت کې دی. په اروپا کې له فرهنګي او اجتماعي انقلاب(رنسانس) وروسته او بیا د صنعتي انقلاب په پایله کې د غربي هېوادونو چټک پرمختګونه پیل شول. یوازې هغه شرقي هېواد چې د نولسمې پېړۍ په آخر او د شلمې پېړۍ په پیل کې د ودې په بهیر کې ور داخل شو جاپان و. وروسته د رنساس له دورې څخه چې په اروپا کې یو فکري انقلاب منځ ته راغی، د پرمختګ او رغونې شرایط دغو هېوادونو ته برابر شول. اما په خواشینۍ سره په همدې دوران کې، شرقي هېوادونه د مخ په ودې په لاره ورګډ نه شول او ځینو لانزولي لاره ووهله. که څه هم په دې هېوادونو کې ځیني

وختونه مؤقتي حرکتونه را پيدا شول، خو په دې علت چې د ټولنې له عمومي فرهنګ سره يې پوره سمون نه درلود د حمايت وړ ونه ګرځيد، ځکه په چټکۍ سره له منځه لاړل. پخوا د هېوادونو د پراختيا موندنې معيار سرانه عايد و. له سرانه عايد څخه مقصد د هر هېواد د داخلي ناخالصه عايد وېش دی، خو په دې برخه انتقادونه وشول چې د هېوادونو د پراختيا موندنې معيار اقتصادي وده يا د سرانه عايد لوړوالی نه دی. ځکه که لوړ سرانه عايد د پراختيا موندنې معيار وبولو نو بايد د کويټ، عربي متحده اماراتو او قطر هېوادونو د لوړ سرانه عايد په درلود لو سره بايد د آلمان، فرانسې او انګلستان په پرتله ډېره پراختيا موندلې وای.

اقتصادي پراختيا څه ته وايي؟

اقتصادي پراختيا د توليدي ظرفيتونو د زياتوالي او د فزيکي، انساني او اجتماعي ظرفيتونو سره په خوا کې ودې ته وايي. په اقتصادي پراختيا کې د ټولنې اقتصادي او ټولنيز بنسټونه تغيير کوي چې د دې تغيير او تحول پايله په لومړۍ درجه کې:

- د اقتصادي نابرابريو راټيټول.
- د ټولنې د توليد وېش او لګښت په برخه کې د تغيير راوستل.
- د توليد د کمې ودې په څنګ کې د ټولنيزو بنسټونو پرمختګ.
- ښايي نظريات بدلون ومومي.
- په دوامداره توګه له موجوده سرچينو څخه د ګټې اخيستلو څواک ورځ په ورځ زياتيږي او هره ورځ يو نوښت څرګنديږي.

بايد د دوو مفهومونو **اقتصادي ودې او اقتصادی پراختيا** تر منځ توپير وشي: اقتصادي وده يوازې دا چې مقصد له هغه نه په ټولنه کې د شتمنۍ او توليد زياتوالی دی او معمولاً د سرانه عايد له مخې اندازه کيږي، په دې بنسټ وده يو کمي مفهوم دی. که په يوه ټولنه کې د توليد کچه په يو څرګند پړاو کې نسبت پخواني پړاو ته زياته شي، وايو چې دې ټولنې وده کړې ده.

دا زياتوالی کیدای شي د زراعتي محصولاتو د سطحې، د نويو کارخانو تأسيس، د موجوده او فعلي توليدي مرکزونو پراختيا او داسې نورو پايله وي. اقتصادي پراختيا د توليد د ډېرښت تر څنګه په بله پديده هم دلالت کوي او هغه کيفي مفهوم دی. که چېرته ټولنه خپله توليدی وړتيا د

ښو طریقو او مناسبې ټکنالوژۍ څخه په ګټې اخیستلو سره زیاته کړي او له خپلو سرچېنو څخه په ښه توګه استفاده وکړي، نو وایو چې د پراختیا په لاره کې یې قدم ایښی دی. څرنګه چې لیدل کیږي وده د پراختیا یوه برخه ده. په حقیقت کې له امکاناتو او سرچینو څخه بهتره ګټه اخیستل د تولید د زیاتېدو سبب ګرځي خو د تولید هر زیاتوالي ته پراختیا نه شو ویلای، د مثال په توګه د تولید زیاتوالی چې د زراعتي محصولاتو په پایله کې رامنځ ته کېږي وده ده. د تولید زیاتوالی چې د طریقو د ښه والی، د اصلاح شویو تخمونو د استعمال، د نباتي او زراعتي آفاتو ضد درملونو څخه د استفادې او د پرمختللې ټکنالوژۍ په پایله کې منځ ته راځي اقتصادي پراختیا ده. یو بل ټکی چې باید هغه ته پاملرنه وشي دا دی چې له ودې څخه لاس ته راغلې پایلې لنډ مهاله وي، خو له پراختیا څخه لاس ته راغلې پایلې کېدای شي اوږد مهاله وي او په اوږده موده کې لاس ته راځي. له همدې کبله ویل کیږي چې پراختیا یو اوږد مهاله بهیر دی.

اقتصادي پراختیا دوه اصلي موخې لري

اول- د شتمنۍ ډېرښت، د ټولنې د خلکو هوساینه، د نیستۍ د جرړو ایستل.

دویم- د کار یا بوختیا ایجادول چې دا دواړه موخې عدالت رامنځ ته کوي. اقتصادي پراختیا ته پاملرنه په پرمختللو او وروسته پاتې هېوادونو کې توپیر لري. په پرمختللو هېوادونو کې له پراختیا څخه اصلي هدف د خلکو د هوسایینې او د ژوند د امکاناتو زیاتوالی دی. په داسې حال کې چې په وروسته پاتې هېوادونو کې زیاتره د نیستۍ د جرړو ایستل او د ټولنیز عدالت زیاتوالی د پراختیا اصلي هدف جوړوي. هغه پوښتنې چې د یوه هېواد د اقتصادي پراختیا په اړه زموږ په وړاندې درېږي هغه د نیستۍ، نابرابرۍ او بې روزګارۍ اندازه ده چې معلومه شي په کومه کچه کې ده؟ که چېرته دا مسلې له ډېرې جګې کچې څخه ډېرې ټیټې کچې ته راښکته شي، نو ویلای شو چې نوموړي هېواد د پراختیا لاره وهلې ده. هرکله که د دې اساسي ستونزو دوه مسلې او یا درې واړه (نیستۍ، نابرابرۍ او بې روزګارۍ) زیاتې شي او شدت پیدا کړي نه‌شو کولای چې د دې کار پایلې ته پراختیا ووایو، که څه هم سرانه عاید دوه برابره شوی هم وي. څرنګه چې وویل شول هغه هېوادونه چې د پراختیا په حال کې دي، د اقتصادي پروګرام یو له اصلي موخو څخه

يي د نيستی له منځه وړل او د ټولنې عامو خلکو ته د ټولنيزې هوساينې برابرول دي. د ټولنيزې هوساينې معنا، د ټولنې د وګړو په جسم او روح کې د سلامتی راوستل، د پوهې رواجول او د ټولنيز قانون ماتونې مخنيوی دی. په دې ډول ټولنيزه هوساينه هغه وخت رامنځ ته کېدای شي چې نيستي له منځه لاړه شي او نابرابري کمه شي. کله چې مو غوښتي وي د يوې ټولنې د ټولنيزې هوساينې کچه معلومه کړو، نو لازمه ده چې د ټولنې د نيستی له وضعيت او د عايد له وېش نه ځان خبر کړو. څکه چې که په ټولنه کې نيستي کمه او د عايداتو وېش مناسب وي، د هغې ټولنې هو ساينه به ډېره وي.

د لوست تکرار

- ....
- ....
- ....
- ....
- ....

پوښتنې

١- پخوا د هېوادونو پراختيا د کومو معيارونو له مخې معلومېدله؟

٢- اقتصادي پراختيا تعريف کړئ او ووایاست چې پراختيا په ټولنه کې د کومو بدلونونو لامل کېږي؟

٣- د اقتصادي پراختيا موخې کومې دي؟

٤- اقتصادي پراختيا او اقتصادي وده څه توپير لري؟

٥- له کومو طريقو او لارو څخه استفاده وشي چې هېواد د پراختيا په لورګامونه واخلي؟

٦- د ټولنې په اقتصادي جوړښت کې له بدلون سره د ټولنې په ټولنيز جوړښت کې کوم بدلونونه راځي؟

کورنی دنده

تاسې هر يو په خپله سيمه کې هغه کارونه ګورئ چې د پراختيا څرګندوونکي دي او هغه کارونه چې د ودې څرګندوونکي دي، په يو لېست کې وليکئ او وروسته بيا خپل لېست د خپلو ټولګيوالو له لېست سره پرتله کړئ.

د پراختیا او وروسته پاتیوالي عوامل



پرتله یې کړئ

کیدای شي ستاسې په سیمه کې داسې کورنۍ موجودې وي چې هغوی مادي ستونزې ونه لري او هڅه کوي چې خپل او د کورنۍ ژوند نور هم ښه کړي. د هغه ترڅنګه داسې کورنۍ هم شته چې ژوند یې له نیستۍ او محرومیت سره تړلی دی. آیا پوهیږئ د دې دوه کورنیو تر منځ د توپیر علت څه شی دی؟

هو! په دې نړۍ کې دوه ډلې خلک ژوند کوي. لومړۍ ډله کوچنۍ ډله ده چې په هوسا خیال او له مادي ستونزو څخه لیرې د خپل او د خپلو اولادونو د ښه ژوند سمبالولو په هڅه کې دي. دویمه ډله هغه انسانان دي چې خپل ژوند له نیستۍ او محرومیت سره جوخت پرمخ بیایي. دا خلک چې د ټولې نړۍ مخ په زیاتیدونکی نفوس تشکیلوي، د ژوند کولو لپاره له ستونزو او کړاوونو سره لاس او ګریوان دي. د هېوادونو په کچه، لومړۍ ډله د هغو ټولنو جوړونکې ده چې په اصطلاح کې هغو ته **پرمختللي** هېوادونه وایي او دویمه ډله وروسته پاتې هېوادونه تشکیلوي. څرنګه چې وویل شول د اقتصادي پراختیا بحث له اوولسمې او اتلسمې پېړۍ را په دېخوا په اروپایي هېوادو کې مطرح شو. په دې هېوادو کې د صنعت او ټکنالوژۍ د پرمختګ او د هغوی

له خوا د ضعیفو هېوادونو د بازارونو د ولکه کولو سره یو ځای د دې سبب شو چې په یوه لنډه موده کې د پرمختللو او وروسته پاتې قطبونو ترمنځ واټن زیات شي او دوه ډوله هېوادونه په نړۍ کې څرګند شي: پرمختللي او وروسته پاتې هېوادونه.

پراختیا موندلي هېوادونه کوم دي؟

د تعریف له مخې (پراختیا موندلي) هېوادونه هغه هېوادونه دي چې په بشپړه توګه صنعتي شوي وي او د یو پیچلي اقتصادي سیستم لرونکي وي. صنعتي شوي هېوادونه هغه هېوادونه دي چې له ۲۵٪ څخه زیات ناخالص داخلي تولیدات یې صنعتي فعالیتونه تشکیل کړي. په حقیقت کې د اقتصاد محور یې صنعتي تولید (صادرات) وي، خو هغه څه چې د ډېر اهمیت وړ دي (په کال کې تر ۱۰۰۰۰ډالرو زیات) د سرانه عاید لوړ والی دی.

وروسته پاتې هېوادونه کوم دي؟

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته او د عمومي نظم له راتلو سره سم په نړۍ کې (د ډېرو تراستعمار لاندې هېوادونو د خپلواک کیدو تر څنګه) د پراختیا موندلو او وروسته پاتې هېوادونو تر منځ دا خلا په ښه توګه څرګنده شوه او د نړۍ مختلف هېوادونه یې له دې اساسي پوښتنو سره مخامخ کړي دي چې: **ولې په نړۍ کې ځینې خلک په لوږه او مطلقې نیستۍ کې ورځې تېروي او ځینې خلک په کامله هوساینه کې؟** له همدې وروسته په نړۍ کې پراختیا منځ ته راغله. نن ورځ د دریمې نړۍ د هېوادونو لپاره د **وروسته پاتې** د تعبیر پر ځای **د پراختیا په حال** کې اصطلاح څخه کار اخیستل کیږي.

فکر وکړئ او ځواب ورکړئ

ستاسې په فکر! ولې ځینې هېوادونه شتمن او ځینې نور وروسته پاتې دي؟

ښایي د یوه هېواد لرغونتوب او عمر د هغه د نیستمنۍ او شتمنۍ علت وي. خو که چېرته لرغونتوب د دې خبرې دلیل وي نو ولې د مصر هېواد د درې زره کلونو تاریخي لرغونتوب سره

سره یو نیستمن او وروسته پاتې او د کاناډا او امریکا هېوادونه چې له ۱۵۰کالو څخه زیات عمر نه لري، اوس د پرمختللو او پراختیا موندلو هېوادونو له جملې څخه شمېرل کېږي.

د طبیعي صنایعو او د استحصال وړ معدنونو اندازه هم نه شي کولی د یوه هېواد د نیستمنۍ او شتمنۍ دلیل شي، ځکه جاپان یو داسې هېواد دی چې له ۸۰ سلنه زیات غرونه دي او مناسبه خاوره نه لري، خو بیا هم د خپلې اړتیاوړ وریجې له محدودې زراعتي ځمکې څخه پوره کوي، خام ارزان بیه مواد د نړۍ له نېستمنو هېوادونو څخه را واردوي، د صنعتي محصولاتو او د قیمتي توکو په توګه یې صادروي چې له امریکا وروسته دویم لوی صنعتي قدرت بلل کېږي. ډېر زکاوت، قوم یا نسب او د پوستکي رنګ هم نه شي کولی چې د هېوادونو په پرمختګ او وروسته والي کې رغنده رول ولوبوي، ځکه چې د نیستمنو او شتمنو هېوادود ډیپلوماتیکو کړو وړو په څېړلو سره دا جوته شوې ده چې کوم د پام وړ توپیر په هوښیارۍ او فکر کې نه لیدل کېږي.

نو توپیر په څه کې دی؟ یو لړ لاملونه شته چې د پراختیا نه موندنې علایم او آثار ګڼل کېږي، لکه: د پانګې کموالی، د متخصصو او ماهرو بشري ځواکونو کموالی چې د وروسته والي لاملونه او نښې دي.

سربیره پردې په عمومي او کیفي توګه کولی شو چې د وروسته پاتې هېوادونو ګډ خصوصیات داسې ډلبندي کړو:

۱- د خلکو د ژوند د سطحې او کیفیت ټیټوالی.

۲- وزګارتیا، کم کار او د مزد د اندازې ټیټوالی.

۳- کرنیزو تولیداتو سره تړاو یا د لومړنیو موادو صادرات (تولیدي سرچینې).

٤- اقتصادي تړاو او په نړیوالو اړیکو کې زیانمن کېدل.

٥- نا مناسب سیاسي حکومتي جوړښت.

٦- ټولنیزه نابرابري.

۷- د منځنۍ طبقې کمزورتیا.

ځینې اقتصادپوهان د طبیعي سرچینو کموالی، د پانګې نه تشکیلېدل او په کافي اندازه د سپما نشتوالی او داسې نور د هېوادونو د وروسته پاتېوالي علت بولي. رښتیا چې د طبیعي سرچینو زیاتوالی او د سرمایې سرچینو ته لاسرسی په اقتصادي پراختیا اغېز اچوي، خو د پام وړ ټکی دا دی چې: جنوبي امریکا، لاتیني امریکا، افریقایي او آسیایي هېوادونه د طبیعي سرچینو او معدني زېرمو له اړخه شتمن دي، د مثال په توګه: د منځني ختیځ د نفتو او ګازو سترې زېرمې یا په لاتینه امریکا او جنوبي امریکا کې د مسو او سربو سرچینې او په افریقا کې د پاملرنې وړ د طلا او نقرې د زیرمو نومونه اخستلای شو چې سره له دې هم پرمختللي هېوادونه نه بلل کېږي. له پورتنیو معلوماتو څخه داسې پایله اخلو چې په پراختیا موندونکو او پراختیا نه موندونکو هېوادو د نړۍ وېشل د طبیعي سرچینو نابرابره وېشنه او د نفوس ډېروالی نه دی.
ځینې پوهانو یو لړ محدودوونکي عوامل لکه: **د نفوسو نا منظمه وده د ما هر انساني ځواک کموالی، د سرمایې او مالي امکاناتو کمښت د پراختیا په حال کې هېوادو د وروسته پاتې کېدو عوامل ګڼي.**
نن دا ثابته شوي ده، په کومه اندازه چې طبیعي سرچینې په پراختیا کې اهمیت لري، هومره علم او ټکنالوژي هم د اهمیت وړ دي. پرمختللې ټکنالوژۍ کولی شي خپله په یوازې ډول په نسبي توګه د هېوادونو لپاره ګټوره تمامه شي، د بېلګې په توګه: جاپان، کوریا او سنګاپور چې کافي طبیعي سرچینو نه لري، خو د صنعت له پلوه په ډېرو مهمو لاس ته راوړنو بریالي شوي دي. په داسې حال کې چې د ارجنټاین په څېر هېواد او ځینې نور هېوادونه د ډېرو شتمنو زېرمو او طبیعي سرچینو له درلودلو سره سره د پراختیا په حال کې هېوادونه دي.
افغانستان له پخوا نه تراوسه له انحطاط او ورسته پاتېوالي، څخه ځوریږي او همیشه د دې مسلې نه د خلاصون د علتونو په لټه کې دی. سیاسي استبداد د ادارې او مدیریت کمزوري بې ځایه غوښتنې، مخالفتونه، د سواد د کچې ټیټوالی، په لویو قدرتونو پورې تړل، د قومونو

ډېروالی، ټولنیزه ګډوډي، د استعمار ګرو لاسوهنه او همدارنګه د ګاونډیانو متضادې ګټې د افغانستان د وروسته پاتېوالي مهم عوامل تشکیلوي.

په فرهنګي، سیاسي او اقتصادي ساحو کې د وروسته پاتېوالي ډېر مهم کورني عوامل دا دي: استبداد، داخلي جګړې، ناپوهي د مالي او پانګي امکاناتو کمښت او نور. بهرني عوامل چې یو ډول نه یو ډول یې د افغانستان په وروسته پاتېوالي کې اغېزناک نقش درلود، هغه استعمارګر هېوادونه وو چې د خپلو اقتصادي او سیاسي ګټو لپاره یې په دوامداره توګه د افغانستان د سیاسي تاریخ په اوږدو کې د جنګ اوږدیدل، نا امني، کشمکش او په افغانستان کې یې د یو ضعیف او پیبلي دولت د مستقر کولو سیاست تعقیب کړی دی. بالاخره د سیمې مهم هېوادونه او ګاونډیان او د هغو متضادې ګټې د داخلي جنګونو، ناامنیو او په عمومي توګه د افغانستان د انحطاط او وروسته پاتېوالي سبب شول. باید ووایو چې زموږ په ټولنه کې د وروسته پاتېوالي او نیستۍ یو عامل له فرهنګي نعمتونو څخه د محرومو قشرونو بې برخې کیدل دي، ځکه چې:

- له فرهنګي نعمتونو څخه د محرومو طبقو برخمن کیدل د ټولنې د ودې سبب کېږي.
- په پایله کې د ټولنې فرهنګ شتمن کېږي.
- فرهنګي شتمني د هوښیارۍ او نوښت ساه د ټولنې په وجود کې نغاړي.
- کله چې ټولنه نوښتګره وي تفکر په ټولنه کې ژوندی کېږي.
- په یوه ټولنه کې د تفکر په ژوندي کیدو سره ټولنه هېڅ وخت د نیستۍ خوا ته قدم نه ږدي.

په دې ډول ټولنه د ټولو اقتصادي، سیاسي، اجتماعي او فرهنګي ستونزو د حل په اړه د ښه او سم تشخیص خاونده کیږي.

د لوست تکرار

- ....
- ....
- ....
- ....
- ....

پوښتنې

۱- پراختیا ته د رسیدونکې هېواد او د وروسته پاتې هېواد تر منځ توپیر څه شی دی؟

۲- د وروسته پاتې هېوادونو ګډې ځانګړتیاوې بیان کړئ.

۳- د پرمختللو هېوادونو ګډې ځانګړتیاوې بیان کړئ.

٤- کوم عوامل د یوه هېواد په پرمختیا او وروسته پاتېوالي کې رول لري؟

٥- زموږ د هېواد د وروسته پاتیوالي کورني عامل څه شی دی؟

٦- زموږ د هېواد د وروسته پاتیوالي بهرنی لامل څه شی دی؟

کورنۍ دنده

په هغه سیمه کې چې تاسې ژوند کوئ نیستي شته او که نه؟ که وي د دې نیستۍ په اړه څېړنه وکړئ او دا څېړنه مو د نورو ټولګیوالو سره مقایسه کړئ.

پراختیا او د ژوند چاپېریال

خبرې پرې وکړئ

انځور ته وګورئ او د هغه په اړه په ټولګي کې خبرې وکړئ.

۱- آیا کوم وخت د هغو ځایو له څنګه تېر شوي یاست چې د سرک په خواکې اچول شوي وي، هغه وخت تاسې ته څه احساس پیدا شو؟

۲- که چېرته بازار ته د کوم شي د پېرودلو لپاره تللي یاست، نو هرومرو به تاسې هلته ډېر موټرونه، د خلکو ګڼه ګوڼه، دوکانونه او کراچۍ لیدلي وي، آیا کوم شیان تاسې هلته ولیدل چې د ژوند د چاپېریال د ککړتیا لامل شوي وي؟

په تېر لوست کې مو ولوستل چې پراختیا د نیستۍ او نا انډولۍ له منځه وړلو او د صنعتي کېدو، په ټولنیزو اړیکو او سیاسي چارو کې د عدالت پر بنسټ د خلکو د ګډون د زیاتوالي په معنا ده. په دې درس کې د ژوند چاپېریال تعریف او اهمیت او د ژوند د چاپېریال او پراختیا ترمنځ دوه اړخیزې اغېزې لولئ.

د ژوند چاپېریال څه شی دی؟

ټول چاپېریال چې په هغه کې ژوند دوام لري، د ژوند چاپېریال نومیږي. د بېلګې په توګه د اوبو ډنډ، یو ښار، اوقیانوس، بېدیاوې، غرونه او داسې نور دا ټول د ژوند د چاپېریال له ډولونو څخه دي. د ژوند په چاپېریال کې ژوندي موجودات د بې ساه شیانو لکه: خاوره، اوبه، ګازونه او نورو موجوداتو سره یوځای شتون لري. ژوندي موجودات پخپلو کې او همدارنګه د بې ساه موجوداتو سره متقابلې اړیکې ساتي. دا اړیکې د ژوند د چاپېریال د دوام او بقا لپاره اړینې دي. د ژوند چاپېریال په دې ډول هم تعریف شوی دی: چاپېریال هغه فضا ده چې ټول فزیکي، بیولوژیکي، ټولنیز، سیاسي او نور هغه شرایط پکې شاملیږي چې ټول ژوندي موجودات پکې ژوند کوي او د هغو د روابطو مجموعه جوړوي. په یو بل تعریف کې راغلي دي: د ژوند چاپېریال د خارجي

اوضاعواو احوالو مجموعې ته وايي چې د ژونديو موجوداتو په وده، پراختيا او بقا باندې اغېز لري. د ژوند چاپېريال د مفهوم د ښه درك لپاره اړينه ده چې له طبيعي سرچېنو او د هغو د استفادې له طريقو سره آشنا شو.

طبيعي سرچېنې څه شی دي؟

په عمومي توګه هغه شيان دي چې خدای (جَلَّ جَلاَلُه) په طبيعت کې پيدا کړي دی او ژوندي موجودات ترې ګټه اخلي. موږ د غره له تيږو څخه په کار اخيستلو خپل ځان ته کور جوړو، له معدنونو څخه د هر ډول فلزاتو په را ايستلو سره د اړتيا وړ لوښي او وسايل جوړوو، له ونو او ځناورو څخه د اړتيا وړ پوښاك او خواړه برابروو.

طبيعي سر چېنې په درې ډوله دي

۱- نه رغيدونکې سرچينې: دا ډول سرچينې د ګټې اخيستلو په بهير کې کمېږي او بالاخره ختميږي لکه: د ډبرو سکاره، مالګه، تيل، ګاز او نور معدنونه.

۲- بيا رغيدونکي سر چېنې: د طبيعي منابعو يو بل ډول دی چې د معقولې او مناسبې ګټې اخيستنې په پايله کې نه ختميږي او د بيارغونې وړ دي. لکه: کبان، ځنګل، واښه او داسې نور.

۳- نه تماميدونکې سرچېنې: چې د هغو اندازه په طبيعت کې ډېره زياته ده، لکه: اوبه، هوا او انرژي.

په بشري نړۍ کې د انسانانو د اړتياوو وده او زياتوالی د ډول او کيفيت له نظره د طبيعي سرچېنو له ظرفيت سره يوشان نه دی.

يو له هغو موضوعاتو چې له طبيعي سرچينو څخه د استفادې د ښه مديريت په کولو کې بايد په نظر کې ونيول شي، هغه د ځمکې د تحمل وړ ظرفيت (Carring capacity) دی.

د تحمل وړ ظرفيت څه شی ته وايي؟

هغه اندازه خلك چې په يو چاپېريال کې ژوند کوي او د ژوند هغه چاپېريال په دوامداره توګه د هغوی اړتياوې پوره کړای شي، د تحمل وړ ظرفيت ورته ويل کېږي، که چېرته د ژوند له چاپېريال نه د غير معقولې ګټې او د نفوس د زياتوالي په نتيجه کې له زغم وړ طاقت څخه څه ورزيات شي ښکاره ده چې طبيعي منابع هغوی ته کفايت نه کوي او په چټکۍ سره ختميږي او زيان ويني تردې چې کيدای شي بيا د رغونې ورنه وي.

د نړيوال ژوند د چاپېريال له مهمو موضوعاتوسره بلدتيا پيدا کړئ.

بحث پرې وکړئ

- ستاسې په اند کوم شيان د ژوند د چاپېريال د ککړتيا سبب کېږي؟

- آيا دا خطرونه او زيانونه يوازې يو ملک ته اوکه ټولو ملکونوته متوجه دي؟

د بشر د تمدن پرمختګ، معاصرې ټکنالوژۍ او د نفوسو ډېروالي، نني نړۍ په ځمکه، هوا او اوبو کې په ککړتیا اخته کړې ده. چې د ځمکې د سر د اوسیدونکو ژوند یې له لوی ګواښ سره مخامخ کړی دی.

کوم موضوعات چې په دې برخه کې ورته اشاره کېږي یوه بې سرحده ساحه لري. یعنې داګواښ یوه هېواد ته متوجه نه دی او د هغو د حل لپاره د هېوادونو ترمنځ تفاهم او مرستې ته اړتیا ده.

د ژوند د چاپېریال د ککړتیا او ګواښ لاملونه

۱- د ځمکې د تودوخې زیاتیدل (ګلخانه یې) ګازونه.

د ځمکې د تودوخې د درجې د لوړیدو له مهمو عواملو څخه یو د ګلخانه یې ګازونو زیاتوالی او د ضرورت وړ تنفسي هوا کموالی دی. د کاربن ډاي اکسایډ په ګاز کې زیاتوالی او ټول ورانوونکي ګازونه د صنعت د پرمختګ له امله دي چې په لویدلو کې یې نامطلوبو اغیزو ته پاملرنه ونه شوه. خو وروسته پوهان په دې پوه شول چې هغه ماشین آلات چې د سون د تیلو او په نورو غوړو باندې فعالیت کوي، خپله د کاربن ډای اکسایډ دګازونو د تولید سبب کېږي. د دې ګازونو له حده زیاته برخه د ځمکې په شاوخوا راټولیږي. د دې ګازونو بې حده زیاتوالی او تولیدېدل د ځمکې په چاپېریال کې دګاز د یو پېړ قشر سبب ګرځي چې دګل خانو د پلاستیک پوښ په څېر د تودوخه د ځمکې سطحې ته نږدې ساتي او د ګلخانې په څېر د ځمکې د هوا د تودیدلو سبب ګرځي.

۲- د ازون د قشر یا سطحې کمېدل

دویمه ستونزه چې د اندېښنې وړ ده هغه د ازون قشر ته چې د ځمکې د ساتنې لپاره د هغې په شاوخواکې ځای لري زیان رسیدل دي. د ازون قشر تقریباً په ۲٤ کیلو مترۍ کې د ځمکې په سر د دې سیارې په شاو خوا چاپېر شوی دی او ماورا بنفش د وړانګو په جذبولو سره ځمکه او د هغه ټول موجودات له زیان اړوونکو وړانګو څخه ساتي. هغه ګازونه چې له صنایعو، وسایطو او نورو ماشینونو څخه دګټې اخیستنې په پایله کې تولیدېږي، د ازون په قشر ورانوونکی او ویجاړوونکی اغېز لري او حتی د ازون د قشر په سطحه باندې یې د یو سوري جوړولو امکانات برابر کړي دي.

۳- د دښتو پراختیا او د حاصل خېزې خاورې کمښت

دګټې وړ ځمکې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د شاړېدو او له منځه تللو له خطر سره مخامخ دي.

علمي څېړنو هم دا جوته کړې ده چې له ۱۰ تر ۱۱ په سلنه د نړۍ حاصل ورکونکې خاوره په هغه کچه ککړه شوې ده چې د هغو بیرته رغونه تقریباً ناممکنه ده.

۴- د هوا ککړتیا او اسیدي بارانونه

اسیدي بارانونه هم د هوا د ککړتیا یو عامل گڼل کېږي. هغه اکسایډونه چې د سون د تېلو له مصرف او سوځولو نه حاصلیږي. په هوا کې د اوبو له موجود بخار سره یو ځای کېږي او داسې اسیدونه تشکیلوي چې له وریځو سره د ځمکې په سر حرکت کوي، کله چې وریځې په باران تبدیلې شي دا اسیدونه د ځمکې مخ ته راگرځي او د ځنگلونو، گیاوو او حتی د انسانانو په لاس جوړ شویو ساختمانونو ته د زیان او د اوبو د سرچېنو د ککړتیا سبب گرځي.

۵-د زهري (سمي) خځلو غورځول

د صنعتي چارو له امله، یو ډېر شمېر صنعتي زهري خځلې او اضافي مواد منځ ته راځي چې د خښېدو په پایله کې د چاپېریال د ککړتیا سبب گرځي. زهري فلزات د ژوندانه چاپېریال او د خلکو ژوندانه ته زیان رسوي. د زهري موادو غیر اصولي انتقال او د هغو په سمه توگه نه دفع کول هم د ژوندانه د چاپېریال له ستونزو څخه شمېرل کېږي.

۶- د ځنگلونو له منځه وړل

د ځنگلونو چټک تخریب او له منځه تلل لاندې ژیو پولیټیکي او بې سرحده اغېز درلودای شي:

الف: د ځنگلونو د پوښښ له منځه تلل د خاورې د چټک شاړېدو، د رودونو او اوبو د سرچېنو د ککړتیا لامل گرځي.

ب: د کاربن ډای اکسایډ د جذب او اکسیجن د تولید اندازه او ظرفیت کمېږي. او د ځمکې تودوخه زیاتیږي.

خبرې پرې وکړئ

ستاسې په فکر! آیا د دې ټولو خطرونو مخنیوی کولی شوکوم چې بشریت له هغه سره مخامخ دی؟ څنگه؟ ستاسې مسؤولیت د ژوند د چاپېریال پر وړاندې څه دی؟

په اوسمهال کې دوامداره پراختیا په سیاسي برخو او هم په څېړنیزو برخو کې په پراخه توگه د نړۍ په سطحه د استفادې وړ گرځي.

دوامداره پراختیا څه شی ده؟

بې له دې چې د راتلونکي نسل اړتیاوو ته زیان ورسیږي، د خپلو اوسمهالو اړتیاوو پوره کولو ته دوامداره پراختیا وایي. په ساده ژبه، نننی انسانان د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره باید د طبیعت له

سرچينو څخه په معقوله توګه ګټه واخلي، ځکه چې راتلونکی نسل هم له دې سر چينو څخه د ګټې اخيستلو حق لري. په دې تعريف کې د نيستی او طبيعي سرچينو ته د لاسرسي په اړه د نن او راتلونکي نسل تر منځه د عدالت رعايت کولو په اړه فکر نغښتی دی او خلک يې له طبيعت نه د معقولې استفادې، د ژوند د چاپېريال او د ژونديو موجوداتو او ځناورو ساتنې ته هڅولي دي.

الله (جَلَّ جَلاَلُه) انسان له خاورې نه پيدا کړ او په هغه کې يې روح واچاوه نو انسان او د انسان د ژوند او حيات ټولې پديدې له ځمکې او خاورې نه پيدا دي او خاوره د ځمکې پوټکی (قشر) دی. الله (جَلَّ جَلاَلُه) ټول موجودات او شيان په يوه پېچلې اړيکه کې د انسان لپاره پيداکړل او انسان يې د دوی په استفاده کې له اسراف کولو نه منع کړ. د اسلام په مقدس دين کې درې شيان مطلوب دي.

۱- په هغو سرچينو او شتمنيو چې الله (جَلَّ جَلاَلُه) په ځمکه، آسمان، د ځمکې په تل او په بحرونو کې د انسان د استفادې لپاره پيدا کړي دي،د الله (جَلَّ جَلاَلُه) د شکر اداکول.

۲- په بحر، ځمکه او آسمان کې له شتمنيو او سرچينو څخه په دوامدره، همېشه سنجيده او اسراف نه کوونکې توګه ګټه اخيستنه.

۳- د الله (جَلَّ جَلاَلُه) له نعمتونو څخه له هر ډول چټلی، نجاست او کثافت نه پرته، پاکه ګټه اخيستنه چې نظافت د شريعت مطلوب او د ايمان جز دی. که چېرته انسان له دې سرچينو څخه معقوله استفاده ونه کړي، دا عمل د دې لامل کېږي چې استفاده کوونکي له خپلو اړيتاوو څخه زيات او د نورو د اړتياوو په نظر کې نيولو څخه پرته ترې استفاده وکړي چې دا عمل اسراف دی او اسراف حرام دی. د دې لپاره چې يوازې د نن ورځې د انسان پرمختيا او سوکالي د اسلام مقصدنه دی بلکې د اسلام مقصد له نن څخه د قيامت تر ورځې د انسان ترقي او پرمختګ دی. انسان پراختيا ته اړتيا لري چې خلک هم د انساني شرايطو ښه والي ته او هم د ژوند د چاپېريال د ساتنې يعنې د طبيعت د توليد قدرت او د تنوع د ساتنې ته پاملرنه ولري. چې د دې کار په عملي کولو سره ځينې نظريات د پراختيا او د ژوند د چاپېريال په اړه پای ته رسېږي. داسې نظريې چې ګوندې دا دوه يو د بل په مقابل کې دروي، خو موږ بايد دا ومنو چې دا دواړه اصلونه (د ژوند چاپېريال او پراختيا) د يوه بهير دوه نه بېلدونکې برخې دي.

کومې چارې چې په موږ پورې اړه لري چې د چاپېريال د پاک ساتلو لپاره يې سرته ورسوو ځينې يې په لاندې ډول ياد وو:

- موږ بايد نيالګي کښېنوو، کبله وکرو او چاپېريال پاک وساتو.

- خځلي او کثافات باید په یو ټاکلي ځای کې وغورځوو.
- د ونو او پارکونو څخه ځارنه او ساتنه وکړو. هغو ته اوبه واچوو او له ماتولو نه يې ډډه وکړو.
- په خوړونو، پارکونو او سړکونو کې کثافات وانه چوو.
- انرژي باید ډېره او بې ځایه مصرف نه شي او د بې کیفیته تیلو او د سون موادو له استفادې نه چې د ژوند چاپېریال ککړوي ډډه وکړو.
- هغه د بیا استفادې وړ شیان چې باید لرې واچول شي، د کوچنیانو لپاره ترې د لوبو شیان جوړکړو.
- د پلاستیکي کڅوړو پر ځای له کاغذي او ټوکریزو کڅوړو ګټه واخلو او یا که له پلاستیکي کڅوړو څخه استفاده کوو، وروسته له استفادې هغه باید د خځلو په ټاکلي ځای کې وغورځوو.
- ژوي ونه زورو او داسې نور.

د لوست تکرار

- ....
- ....
- ....

پوښتنې

١- د ځمکې د زغم اندازه څه شی ده؟ ویې لیکئ.
٢- که له طبیعي سرچینو څخه په معقوله توګه استفاده ونه شي، څه به پیښ شي؟
٣- نه رغیدونکي طبیعي سر چینې کومې دي؟ توضیح یې کړئ.
٤- ولې ویل کېږي چې پراختیا د ژوند د چاپېریال د ککړیدو لامل ګرځي؛ آیا دا سمه ده؟
٥- د ژوند د چاپېریال ککړتیا د انسانانو ژوند ته څه زیان رسوي؟
٦- د ځمکې د کرې تودیدل (ګلخانه یي اغېز) څه شی دی؟ بیان یې کړئ.
٧- د ځمکې د تودوخې د درجې لوړوالی په اقلیم کې کوم تغییرات راولي او د کومو پېښو لامل کېږي؟

کورنۍ دنده

څلور هغه کارونه چې تاسې یې د ژوند د چاپېریال د پاکوالي لپاره سرته رسولای شئ ولیکئ او بیا یې د ټولګي پر وړاندې و لولئ.

د څپرکي لنډيز

۱ - پراختیا په لغت کې د تدریجي پرمختګ، ځواکمنۍ او حتی لویوالی خوا ته د ودې کولو په معنا ده. همدارنګه پراختیا د پراخوالي په معناهم ده.

۲- د هر ډول پراختیا اساس فرهنګي پراختیا ده او له هغه ځایه چې د دولتونو اصلي موخه هر اړخیزې پراختیا ته رسیدل دي او د دې پراختیا بنسټ انسان دی، له دې کبله د دوامدارې او حقیقي پراختیا بنسټ به هم فرهنګي پراختیا وي.

۳- هغه شرایط او ټولنیز لاملونه چې د ودې او پراختیا په بهیر کې د پاملرنې وړ دي عبارت دي له:

۱- د مطلقې نیستۍ د له منځه وړلو په مقصد لاس په لاس، فوق العاده او بیړنۍ مرستې چې په خواشینۍ سره د نفوسو ډېره برخه ورسره لاس او ګریوان ده.

۲- د اساسي اړتیاو، لکه: خوړو، استوګنځۍ، د سون موادو، کالیو او ځینو ټولنیزو اړتیاوو، لکه: د بشري حقونو زده کړې او د دندې لاسته راوړلو لپاره د لارې هوارول او په ټولنیز ژوند کې د سیاسي او ټولنیزو موقفونو او نقشونو لاسته راوړل، د ټولنیزې هوساینې او عدالت راوستل دي.

۴- اقتصادي پراختیا: هغه پرمختګ چې د د تولیدي،فزیکي، انساني او اجتماعي ظرفیتونو د زیاتوالي سره یو ځایي وي، اقتصادي پراختیا بلل کیږي.

۵- ټول هغه چاپېریالونه چې هلته ژوند دوام لري، د ژوند چاپېریال ورته ویل کیږي.

۶- د ژوند د چاپېریال پاک ساتل او د اقلیم د تغییر د مخنیوي لپاره هڅې د ټولو بنسټونو او د هېواد د هر وګړي مسؤولیت او دنده ده.